

# د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې مسودې بیا کتنه

## د منابعو (سرچینو)، تخصیص او د عامه مالي چارو تنظیم اجراآتو ته یو لنډ نظر

نومبر ۲۰۱۴

EPD | EQUALITY for Peace and Democracy

## د موضوعاتو سرلیکونه


**۳ سریزه**

۳ کارونو سرته رسولو کې ننلاره

**۴ د ۱۳۹۴ کال ملي بودجې ته یوه کتنه**

۴ اټکل شوي مالي منابع

۵ د ۱۳۹۴ کال اټکل شوي تخصیصونه

۶ د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کال د بودجو په پرتله کول

**۷ مالي ثبات**

۷ کورني عواید

۸ ساتنه او څارنه (حفظ او مراقبت)

۹ د بودجې تطبیق

۱۰ د مرسته ورکونکي اختیاري صلاحی

**۱۰ د مرسته ورکونکي اختیاري صلاحی**

۱۱ شفافیت او حساب ورکول

۱۲ څارنه او ارزونه

۱۳ ولایتي بودجه

۱۳ پر نتایجو ولاړ پروګرام د بودجې جوړول

۱۴ د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکی بودجه

۱۴ هغه بودجه جوړونه چې د خلکو اړتیا او د پالیسۍ زمنې پوره کړي: د روغتیا او ښوونې او روزنې د وزارت د قضیو مطالعه

۱۶ د مدنی ټولنې ونډه

**۱۷ سپارښتنې**

۱۷ دولت

۱۹ د نړیوالو تمویلونکو لپاره

۱۹ د مدنی ټولنو سازمانونو لپاره


## منه او ستاینه


د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه تر هر څه لمړی غواړي چې د افغانستان د دولت د چارواکو، د روښتیا (شفافیت) او حساب ورکولو لپاره د افغاني یو والی د غړو او د افغاني ټولنې د ټولو وګړو څخه منه وکړي، ځکه چې د دوي له مرستې او رغنده نظریاتو د ورکولو پرته به دا پروژه شوني نه وه. مونږ د امریکا د متحده ایالاتو د سولې بنسټ څخه چې دې پروژې ته یې مالي ملاتړ تیار کړی هم منه کوو. په ځانګړې توګه د میري هربر، ماوریټس ریډ، او شمسیه نوري څخه چې د راپور په راټولولو او تألیف کښې یې زیار ګاللی او په همدې توګه د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د کارکونکو څخه چې د پروژې په بهیر کښې یې خپل ملاتړ ته دوام ورکړی د زړه له کومي منه کوو.

# ۱.سریزه

د روڼتیا (شفافیت) او حساب ورکولو لپاره افغانې یووالی د اداري له لارې، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د دولتي منابعو) سرچینو د توزیع او خدماتو د وړاندې کولو د څارنې لپاره د ملي بودجې څخه د لارښود د یوې وسیلې په توګه کار اخستی دی. د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې د ملي بودجې یوه کلنۍ بیا کتنه تر سره کړېده، کومه چې په ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال کښې پیل شوه، تر څو ملي شورا ته د بودجې په اړه لا نور تفصیلات برابر کړي چې پر بودجه له سره بیا کتنه وکړي. دا بهیر ملي بودجې ته د مدني ټولنې له نظره داسې یو فکر رامنځته کوي چې د ملي بودجې د جوړونې، تطبیق، څارنې او راپور ورکولو په ټوله پروسه کښې د مدني ټولنې او ټولو وګړو په نقش ځانګړی ټینګار کوي.

د دې یو کلنې پروژه څخه په استفاده، د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسه غواړي چې د بودجې د یوې آسانې او منسجمې مطالعې له لارې وکولای شي چې په بودجه و پوهیږي او دا چې بودجه د هغوی د شخصي ژوند لپاره څه معنا لري او د تخصیص د منابعو له مخې د خدماتو څرنګوالی آزمیښت کړي. د بودجې دا خپلواکه کتنه افغان پارلمان ته دا معلومات په لاس ورکوي چې هغه مطالعه او منظوره یې کړي. دا بهیر پردې سربیره د ملي ټولنې له نظره د ملي بودجې په اړه د نظریاتو د وړاندې کولو لپاره یو مناسب ځای او فرصت برابروي.

د بودجې د یوې لنډې مطالعې او بیا کتنې تر څنګ به دا بودجه په راتلونکې مالي کال د سر ته رسیدونکو کارونو او د مالي چارو د سمبالښت، اصلاحاتو او معیارونو له نظره د پر وخت مطالعې لپاره پارلمان ته لیږل کیږي. دا یوه لنډه بیا کتنه د ۱۳۹۴ کال د بودجې پراخه ارزونې سره یو ځای پرمخ ځي چې نوموړې بودجه د لا زیاتې مطالعې لاندې نیسي او تخصیص شوې بودجه د کلیدي اهدافو او شاخصونو سره په پرتله کوي، او همدارنګه د ۱۳۹۲ کال د وروستیو حساباتو یو هر اړخیزه بیا کتنه او مطالعه کوي.

## ۱.۱ کارونو سرته رسولو کړنلاره

د ۴۹۳۱ کال د ملي بودجې مطالعه او بیا له سره کتنه د تطبیقي نظره د بودجې د اساسي برخو د میز پر سر د مطالعې او بیا کتنې او د عامه مالي چارو د سمبالښت د اصلاحاتو څخه وروسته لکه څرنګه چې د پالیسیو په اسنادو کښې طرحه شوي او ډله ایزو مرکو کښې یې د کارول شوې ژبې په اړه خبرې شوی دي،

پیل کیږي. په همدې توګه، پوښتنلیکونه تیار شوي وو او د موضوعاتو د نوعیت په نظر کښې نیولو سره د مالیې وزارت د بیلا بیلو مرکه کیدونکو ډلو لوړ رتبه چارواکو لکه (د بودجې عمومي رئیس، د خزاینو عمومي رئیس او د ګمرکاتو عمومي رئیس)، او د خدماتو وړاندې کونکو وزارتونو لکه (د عامې روغتیا او ښوونې او روزنې وزارتونه) لوړ رتبه چارواکو، د مدني ټولنو سازمانونو، او عامه مالي چارو سمبالښت او تنظیم کارپوهانو ته توزیع شوي وو. په دې اړه په مشورتي ډول په مرکزي سطحه د ۷ کسانو سره مرکې تر سره شوې، د ۱۱ مدني ټولنو سره په کابل کښې یوه مشورتي غونډه جوړه، او د انټرنټ په لیکه د ملي بودجې او خدماتو د وړاندې کولو په اړه د ۷ مدني ټولنو د ځواب ورکونکو سازمانونو سره یوه سروې ترسره شوې ده.

د بامیانو، هرات، ننګرهار په ولایتونو او د کابل ولایت په دشت برچي او قره باغ ولسوالیو کښې د روڼتیا (شفافیت) او حساب ورکولو لپاره افغاني یو والی سره مشورې تر سره شوي دي. په ولایتي سطحه د ټولنې د نظر د اندازې د معلوموملو د وسیلې څخه په استفاده د روڼتیا (شفافیت) او حساب ورکولو لپاره افغاني یو والی د شبکې، د نارینوو سازمانو د غړو، د ښځو د سازمانونو د غړو، او د خدماتو د وړاندې کونکو لکه د عامې روغتیا او ښوونې او روزنې د وزارتونو د لوړ رتبه چارواکو سره د خپل ځاني ارزوني له لارې ګډ کار تر سره شو. د ټولنې د نظر د اندازې د معلوموملو په وسایلو کښې، د خلکو د نظر د اخستلو یو بهیر، د بنسټیزو موضوعاتو پیژندل، د ټولنې پواسطه د رامنځته شوې د نظر د معلوموملو د اندازې، او د خپل ځاني ارزونې د اندازه کولو چې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتژۍ او د ملي لمړیتوبونو د پلان په ګډون د پالیسیو د اسنادو په رڼا کښې هرې برخې ته ژمنتیا شتون ولري. په ټولیز ډول په محلي سطحه د ۲۰۰ کسانو سره مرکې شوې دي.

ټولې مرکې ثبت، لیکل او انګلیسي ژبې ته ژباړل شوې دي. په مرکزي سطحه ثبت شو مرکو ته د پیژندګلوۍ نخښه (کوډ) ورکول شوې او تحلیل او تجزیه شوي، او په ولایتي سطحه د ټولنې د نظر د معلوموملو اندازه د هر سکټور لپاره په هر ولایت کښې د تحلیل او تجزیې په مقصد د یو ټولنیزې درجې د اندازه کولو وسیله کښې سره را یو ځای شوي دي. د ۱۳۹۴ کال ټول ارقام د ملي بودجې د مسودې د متن څخه چې پارلمان ته د ۲۰۱۴ کال د نومبر د میاشتې په یولسمه نیټه استول شوی دی، اخستل شوي دي.

# ۲. د ۱۳۹۴ کال ملي بودجې ته یوه کتنه

د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره وړاندیز شوې بودجه ۸.۰۴۸ میلیارده امریکایي ډالره ده چې د (۴۵۸.۷۵۱ ملیارده افغانیو) سره برابره ده، کومه چې په مقایسوي توګه د د ۱۳۹۳ کال د بودجې څخه چې ۷.۶۴۱ امریکایي ډالره (۴۲۸.۳۸ میلیارده افغانۍ) وه، ۷ فیصده زیاته ده.

ملي بودجه د کورنیو عوایدو، مرسته ورکونکو د مرستې او پورونو پر بنسټ جوړه شوې ده. د ۱۳۹۴ کال لپاره کورني عواید ۲.۳۲۳ میلیارده امریکایي ډالر (۱۳۲.۴۲۴ میلیارده افغانۍ) اټکل شوي دي، چې د ملي بودجې ۲۹ ٪ برخه جوړوي. د ۱۳۰۴ کال لپاره نړیوالو مرسته ورکونکو ۵.۶۴۲ امریکایي ډالره (۳۲۲.۱۹۲ میلیارده افغانۍ) ژمنه کړېده، چې د ۱۳۹۴ کال د ټولې بودجې ۷۰ ٪ برخه جوړوي. په هر حال، په بودجه کښې ۷۲.۵ امریکایي ډالره (۴.۱۳۴ میلیارده افغانۍ) کسر شتون لري، چې د ټولې ملي بودجې یوازې یو ٪ برخه جوړوي، کوم بودجوي کسر چې په ۱۳۹۳ کل کښې ۶ ٪ وه.

د ۱۳۹۴ کال په بودجه کښې، ۴.۸۳۷ میلیارده امریکایي ډالره (۲۷۵.۷۴۹ افغانۍ) یعنې د وړاندیز شوي ملي بودجې ۶۰ ٪ د عادي بودجې لپاره تخصیص شوې ده او ۴۰ ٪ یې د پرمختیایي بودجې لپاره تخصیص شوې ده.




## ۱.۲ اټکل شوي مالي منابع

### کورني عواید

د ۱۳۹۴ کال لپاره حکومت ۲.۳۲۳ میلیارده امریکایي ډالر (۱۲۳.۴۲۴ میلیارده افغانۍ) هدف ټاکلی دی. د افغانستان د مالیي وزارت داسې ګڼې چې ۸۷ ٪ به یې پر کورنیوعوایدو د مالیاتو د راټولو له لارې لاسته راشي. له دې جملې څخه، ۳۵ ٪ چې پر عایداتو باندې د مالیاتو، ۲۰ ٪ پر نړیوالې سوداګرۍ د مالیي له لارې، ۱۷ ٪ د کورنیو مالونو او خدماتو د وړاندې کولو، او ۶ ٪ د نورو د مالیي وړتیا نه لرونکو عوایدو له لارې لاسته راشي. داسې اټکل شوی چې ۲۲ ٪ کورني عواید د داخلي مالیي د لګولو وړتیا نه لرونکو عوایدو له لارې لاسته راشي. اټکل کېږي چې له دې جملې څخه به یو ٪ د تیلو د ترانزیټ، یو ٪ د اورګادي د لیکي، او ۱۹ ٪ داخلی نورو د مالیي

د لګولو د وړتیا نه لرونکو عوایدو څخه تر لاسه شي.

د ۱۳۹۳ کال دریمې ربعې ته په کتنه، دولت یوازې ۵۰.۹۳۸ میلیارده افغانۍ چې د خپل هدف۱۳۲.۰۰۰ میلیارده افغانۍ د دې کال لپاره تر اوسه راټولې کړې دي چې د ټاکل شوي هدف څخه ۶۱ ٪ ټیټه ده. دولت یوازې ۲۴.۳۴۱ میلیارده افغانۍ د مالیي د راټولو، ۱۲.۱۴۴ میلیارده افغانۍ د ګمرکاتو د محصول او فیس، او ۸.۰۳۷ میلیارده افغانۍ د ملکیتونو د پانګې، د مالونو د خرڅولو او خدماتو د وړاندې کولو، اداري فیسونو، حق الامتیاز ورکولو، غیر مالیاتي جریمو او مجازاتو او کانونو د استخراج له لارې تر لاسه کړي دي. د ۱۳۹۴ کال لپاره د کورنیوعوایدو اټکل شوی هدف د ۱۳۹۲ کال د کورنیوعواید د اټکل شوي هدف پر پرتله یوازې ۴۲۴ میلونه لوړ نیول شوی دي. په لمړیو نهو میاشتو کښې د ټیټي کچې د عایداتو راټولونو په نظر کښې نیولو سره، داسې نه بریښي چې چې حکومت به د پاملرنې وړ عواید را ټول کړی شي تر څو ټاکل شوی هدف تر لاسه کړي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په پر له پسې توګه په دې وروستیو کلونو کښې د کورنیو عوایدو ټاکل شوی هدف له لاسه ور کړی، دا وضعیت په روان مالي کال کښې همداسې دی او په ۱۳۹۲ کال کښې دا کموالی ۷ ٪ وه.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې په ۱۳۹۳ کال د ټیټې سطحې عواید راټولیدل کیدای شي همداسې وي، ځکه د څو میاشتو اوږد سیاسي کړکیچ یو لوی ځنډ د یو اقتصادي سقوط سبب ګرځیدلی دی.

### د تمویل کونکو مرسته

د ۱۳۹۴ کال لپاره، نړیوالو مرسته ورکونکو د ۵.۶۵۲ میلیارده امریکایي ډالره (۳۲۲.۱۹۲ میلیارده افغانۍ)، ژمنه کړې چې د ۱۳۹۴ کال د ټولې بودجې ۷۰ ٪ برخه جوړوي. ۲.۶۳۵ میلونه امریکایي ډالره (۱۵۰.۴۲۵ میلیارده افغانۍ) د عادي بودجې لپاره د امنیتي انتقال ګډه قوماندانی - افغانستان، د افغانستان د بیا رغونې د مرستې صندوق، او د افغانستان د نظم او قانون د مرستې صندوق لګښتونو لپاره په نظر کښې نیول شوې ده. ۳.۰۱۷ میلیارده امریکایي ډالره (۱۷۱.۹۶۶ میلیارده افغانۍ) د انکشافي بودجې لپاره په نظر کښې نیول شوي دي، چې په هغو کښې نوې پروژې او هغه بودجه او کارونه چې د ۱۳۹۳ کال د انکشافي بودجې څخه چې په ۱۳۹۳ کال کښې مصرف شوی نه دي، را انتقال شوی. په انکشافي بودجه کښې د مرسته کونکو د ونډې څخه، ۱۸۰ میلیونه امریکایي ډالره (۱۰.۲۶۰ میلیارده افغانۍ) د اختیاري مرستې په بڼه تخصیص شوي دي، ۲.۷۵۸ میلیارده امریکایي ډالره (۱۵۷.۱۹۷ میلیارده افغانۍ) د غیري اختیاري مرستې، او ۷۹ میلیون امریکایي ډالره (۴.۵۰۹ میلیارده افغانۍ) د پورونو له درکه پوره کیږي.

د ۱۳۹۳ کال په پرتله، په بودجه کښې د مرسته کونکو د ژمنې پر بنسټ د ۵.۱۱۲ میلیارده امریکایي ډالره (۲۸۶.۳۰۲ میلیارده افغانۍ) چې په ۱۳۹۳ کال کښې یې ژمنه شوې وه یو زیاتوالی څرګندوي. سره له دې چې دا زیاتوالی د ۱۳۹۳ کال په پرتله ښودل شوی دی، اما دا زیاتوالی د هغه ۲۳ ٪ زیاتوالی څخه کم دی چې د ۱۳۹۲ – ۱۳۹۳ کال لپاره د مرسته برابرونکو له خوا صورت نیولی وه.

## ۲.۲ د ۱۳۹۴ کال اټکل شوي تخصیصونه

| | سکتور | په ډالري بڼه (میلیونونه) | | | توله ٪ | د عادي بودجې ٪ | د انکشافي بودجې ٪ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عادي بودجه | انکشافي بودجه | مجموعه | | | |
| ۱ | امنیت | 3,216.95 | 353.136 | 3,570.09 | 44 | 66 | 11 |
| ۲ | زیر بناء او طبیعي منابع | 110.443 | 1,032.65 | 1,143.09 | 14 | 2 | 32 |
| ۳ | ښوونه او روزنه | 631.493 | 333.764 | 965.257 | 12 | 13 | 10 |
| ۴ | کرهنه او کلیواله پرمختیا | 33.475 | 782.662 | 816.137 | 10 | 1 | 24 |
| ۵ | روغتیا | 48.981 | 319.597 | 368.578 | 5 | 1 | 10 |
| ۶ | ټولنیز مصئونیت | 347.87 | 17.419 | 365.289 | 5 | 7 | 1 |
| ۷ | حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقوق | 224.624 | 29.044 | 253.668 | 3 | 5 | 1 |
| ۸ | د اقتصادي او خصوصي سکتور پرمختیا | 50.738 | 149.688 | 200.426 | 2 | 1 | 5 |
| ۹ | د لګښت نور کودونه | 173.128 | 192.602 | 365.73 | 5 | 4 | 6 |
| | مجموعه | 4,837.70 | 3,210.56 | 8,048.26 | 100 | 100 | 100 |

## عادي بوجه

د ۱۳۹۳ کال لپاره وړاندیز شوې عادي بودجه ۴.۸۳۷ میلیارده امریکایي ډالر (۲۷۵.۷۴۹ میلیارده افغانۍ)، د وړاندیز شوی ملي بودجې ۶۰ ٪ جوړوي. د پولي نقطه نظره، عادي بودجه بودجه د ۱۳۹۳ په پرتله ۸۳ میلونه امریکایي ډالر (۴.۷۲۳ میلیارده افغانیو) ته را ټیټه شوې ده، چې ۱.۷٪ کموالی ښرګندوي. دا ۵ ٪ د ۱۳۹۳ کال د ټولي بودجې په پر تله د ونډې کموالی په ګوته کوي. د بودجوي کودونو پر بنسټ، د ۱۳۹۴ کال لپاره د تخصیص شوې عادي بودجې له جملې څخه ۵۶ ٪ د معاشونو او تنخواګانو (۲۱ کود)، د مالونو او خدماتو لپاره ۲۹ ٪ (۲۲ کود)، ۴ ٪ د ملکیتونو دلاسته راوړلو (۲۵ کود)، او ۱۱ ٪ د احتمالي اړتیاو د پوره کولو د کود لپاره تخصیص شوې دي.

## انکشافي (پرمختیایي بودجه)

د ۱۳۹۴ کال لپاره وړاندیز شوې بودجه ۳.۲۱۰ میلیارده امریکایي ډالر (۱۸۳.۰۰۲ میلیارده افغانۍ) ده، چې د وړاندیز شوې ټولي ملي بودجې۴۰ ٪ جوړوي. د مالي نقطه نظره، انکشافي بودجه د ۱۳۹۳ کال په پرتله ۶۱۴ میلیونه امریکایي ډالر (۳۵.۰۹۶ میلیارده افغانۍ) زیاته شوې ده، چې ۲۲ ٪ زیاتوالی په ګوته کوي. دا د ۱۳۹۳ کال په پرتله ۵ ٪ لوړوالی دی.

۸۸.۴ ٪ بودجه د غیر اختیاري پروژو لپاره په پام کښې نیول شوې ده او ۱۱.۶٪ د اختیاري پروژو لپاره په پام کښې نیول شوې ده چې د ۱۳۹۳ کال د انکشافي بودجې په پرتله پکښې ۲۲.۴ ٪ کموالی رامنځته شویدی. دا د دې خبرې ښرګندونه کوي چې مرسته ورکونکې اداري افغان دولت ته د بودجې په برخه کښې ډیر زیات ملاتړ برابروي، او د اختیاري پروژو د ملاتړ لپاره لږه مرسته ور کوي.

۲.۲.۲جدول: په بیلا بیلو سکټورونو باندې د عمومي بودجې ویش




## ۲.۳ د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کال د بودجو په پرتله کول

| سکټور | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د ۱۳۹۳ کال د بودجې قانون، انګلیسي، کال) پر (میلیون) ډالر | | | د بودجې تطبیق ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کال د عادي او انکشافي بودجې تر منځ توپیر | | د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کال د ټولې بودجې تر منځ توپیر | د عادي بودجې د تطبیق ٪ | | د انکشافي عادي بودجې د تطبیق ٪ | | د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ فیصدی توپیر | |
| | د عادي بودجې د تطبیق | د انکشافي عادي بودجې د تطبیق | | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | د عادي بودجې د تطبیق | د انکشافي عادي بودجې د تطبیق |
| امنیت | +9.587 | +184.795 | +194.382 | 87 | 61 | 44 | 8 | -26 | -36 |
| زیر بناء او طبیعي منابع | -31.182 | +91.652 | +60.470 | 93 | 65 | 58 | 31 | -28 | -27 |
| ښوونه او روزنه | -18.649 | -3.406 | -22.055 | 99 | 80 | 41 | 33 | -19 | -8 |
| کرهنه او د کلیواله پرمختیا | -1.543 | +227.686 | +226.143 | 92 | 80 | 76 | 70 | -12 | -6 |
| روغتیا | -17.565 | +57.782 | +40.217 | 99 | 79 | 41 | 48 | -20 | -7 |
| ټولنیز مصئونیت | -48.787 | -4.305 | -53.092 | 99 | 87 | 65 | 20 | -12 | -45 |
| حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقوق | -11.604 | -54.369 | -65.973 | 95 | 82 | 42 | 17 | -13 | -25 |
| د اقتصادي او خصوصي سکتور پرمختیا | +0.484 | +25.945 | +26.429 | 96 | 80 | 75 | 32 | -16 | -43 |
| د لګښت نور کودونه | -51.479 | +43.602 | -7.877 | - | - | - | - | - | - |
| مجموعه: | -170.747 | +569.382 | +398.653 | 95 | 77 | 55 | 32 | -18 | -23 |

۲.۳.۱ جدول د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ د بودجوي تخصیصونو تر منځ توپیر تشریح کوي، او د بودجې د تطبیق اندازه د بیلا بیلو سکتورونو پر بنسټ د ۱۳۹۲ کال څخه د ۱۳۹۳ د جدول په توپیر ښکاره کوي. (د دریمې ربعي تر پایه). په داسې حال کښې تخصیص په امنیتي، زیربناء او طبیعي منابعو، کرهنې او کلیواله پرمختیا، روغتیا، اقتصادي او خصوصي د ودې په سکتور کښې زیات شوی دی، اجراآت د بودجې د تطبیق په هر یو سکتور کښې ضعیفه وو. د ۱۳۹۲ څخه د ۱۳۹۳ پورې د ټولنیز سکتور د بودجې تطبیق ۴۵ ٪، د امنیتي ۲۷٪، او د اقتصادي او خصوصي۴۳ برخو کښې ٪ را ټیټ شوی، سره له دې چې دا نیمګړتیاوي په زیات احتمال را کمې شي کله چې د ۱۳۹۳ کال د څلورمې ربعې حسابونه تر سره شي. د بودجې تطبیق په روغتیایي، کرهنیز اوکلیوال انکشافي سکتور کښې ډیر لږ شان را لویدلی دی. ارقام دا را په ګوته کوي، کله چې بودجه په د ۱۳۹۳ کال پر نسبت په ۱۳۹۴ کال کښې لوړیږي، نو د بودجې تخصیص د هر یو سکتور د ظرفیتونو سره سمون نه خوري، تر څو دا بودجه تطبیق کړي. په هر حال، لکه څنګه چې په ۳.۳ برخه کښې به پرې خبرې و شې، د ۱۳۹۳ کال دریمې ربعې تر پایه یوازې ۹۴ ٪ تخصیص شوې عادي بودجې او ۵۰ ٪ تخصیص شوی انکشافي بودجې، لګښتونه داسې څرګندوي چې د تطبیق ټیټه اندازه په زیات احتمال په انکشافي بودجه کښې دی او علت یې په سکتوري وزارتونو کښې د بیلا بیلو لازمو ظرفیتونو نشتوالی دی، د کوم څه لپاره د مالیې وزارت په مرکزي سطحه بودجه تخصیص شوې وه.

# ۳.مالي ثبات

د ۲۰۱۴ کال څخه د مرسته ورکونکو ادارو د مرسته کموالی او د کورني عوایدو پر ځای ولاړ حالت، مالي ثبات لپاره دا ضرورت په ګوته کوي چې په تیره لسیزه لاسته راغلی پرمختګ وساتل شي. د منابعو سم په کار اچول، دا په ګوته کوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د عامه مالي چارو تنظیم د انتقال په لسیزه کښې یو مهم ګواښ په بنه شتون لري، چې هغه د عملیاتو او حفظ او مراقبت، د انکشافي بودجې د تطبیق لوړې اندازې، او کورنیو عوایدو پورته وړلو ته اړتیا ده، تر څو د مرسته ورکونکو د مرستو د کمیدو ځای ډک کړي.

بله لاره چې د مالي ثبات تضمین کړي، هغه د منځمهالې بودجې جوړولو پلان دی. دولتي اسناد دا ښکاره کوي چې د مالیې وزرات د ۱۳۹۱ کال را په دیخوا د عامه مالي چارو او لګښتونو سمبالولو ادارې (PFEM) د ۲۰۰۵ کال د قانون مطابق د یوې منځمهالې بودجې چوکاټ جوړ کړی دی، چې وروستنی د منځمهالې بودجې چوکاټ یو درې کلندوره یعنې ۱۳۹۴ څخه ۱۳۹۶ کال پورې تر پوښښ لاندې نیسي. د منځمهالې بودجې چوکاټ د جوړولو مقصد دادی د بودجې د لمړنیو مسودې په جوړولو او دا چې د موجوده بودجې د پالیسۍ ارزونه وکړي او د دولت د نوی بودجې لمړیتوبونه د راتلونکي مالي کال او منځمهالې دورې لپاره مرسته وکړي. د منځمهالې بودجې چوکاټ د مالي منابعو وړاندیز شوي تخصیصونه د لمړیتوبونو سره سم، په ځانګړې توګه هغه څه چې د افغانستان د ملي انکشافي ستراتیژۍ او د ملي لمړیتوبونو پلاني کښې یې یادونه شوې، طرحه کوي. دا د منځمهالې بودجې چوکاټ دریم یو دی چې د افغانستان د مالیې وزارت جوړ کړی دی، او په دري ژبه د بودجې د عمومي ریاست سره شته. د منځمهالې بودجې چوکاټ ګټورتیا تر پوښتنې لاندې ده ځکه چې ډیر اهداف لکه د بیلګې په توګه د بودجې تطبیق کښې ښه والي رامنځته کیدل، او کورنیو عوایدو لوړیدل په هغه کښې په نظر کښې نه دي نیول شوي. نو له دې امله ډیر مهمه ده چې راتلونکې منځمهالې بودجې چوکاټ کښې داسې ستراتژۍ شامله شي چې په هغوی کښې د ظرفیتونو د لوړتیا موضوعات په مرکزي او ولایتي حکومتي سطحه په نظر کښې نیول شوي وي تر څو د اهدافو د تر لاسه کولو ډاډ تر لاسه شي.

## ۳.۱ کورني عواید

د نړیوال امنیت او همکارۍ ځواکونو د پوره وتلو سره سم، کورني عواید باید زیات شي تر څو د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د کمیدونکو مرستو ځای و نیسي. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو اړوند کړکیچ چې په ۱۳۹۳ کال کښې تر سره شوې، کورني عواید په پرله پسې توګه را کم شول او حکومت په دوهم ربعه کښې ۲۱ ٪ او په دریمه ربع کښې ۹۵ ٪ د خپل ټاکلي هدف څخه کښې شاته پاته شو. یعنې په عمومي توګه تر نن تاریخه د دریمې ربعې تر پایه په دې کال کښې ۶۲ ٪ د خپل ټاکلي هدف څخه بیرته پاته شوي. د کورنیو عوایدو محدودیت او د بهرینو مرستو د کمیدو زیات احتمال ته په کتلو، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په خپلو پښو د دریدو پر لور څو ډوله اقدامات کړي: د دې لسیزې ستراتژیک لید لوری په ۲۰۱۲ کال کښې ترتیب شوی. نوموړي سند مختلف ډوله اقدامات طرحه کړي تر څو کورني عواید د تولید او عمومي انکشاف له درکه لږ تر لږه ۱۵.۹ سلنې ته لوړ شي چې ۳۳.۶ ٪ مالي خلا په ۲۰۱۵ کال کښې

د تولید او عمومي انکشاف په ذریعه را ډکه کړي. د کورنیو عوایدو ته چې تولید او عمومي انکشاف د ۱۰ څخه تر ۱۱ ٪ پورې په نوسان کښې دی (۱۱ ٪ په ۱۳۹۰ کال کښې او ۱۰٪ په ۱۳۹۱ کال کښې او ۱۰.۴ ٪ په ۱۳۹۲ کال کښې)، د ۱۵.۹ ٪ هدف په ۲۰۲ کال لپاره واقعي نه بریښي، ځکه د حکومت هلې ځلې چې کورني عواید باید لوړ کړي ګټورې نه وې. لکه څنګه چې پورته یادوه وشوه په ۱۳۹۳ کال دعوایدُ راټولول د سیاسي کړکیچ له امله عملا لږ وو.

د یوې وسیلې په توګه د عوایدو له لارې د مالیاتو زیاتیدل، د ثابت اضافي ارزښت پر بنسټ پرورګرام په ۲۰۱۴ کال کښې د نړیوال وجهي صندوق د پور د سهولت د پلان سره سم چې د افغانستان لپاره سرته رسیږي بالاخره په ۲۰۱۴ کال د می په میاشت کښې د پارلمان له خو منظور شو. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت داسې اټکل کړی وه چې د مالیاتو زیاتیدل عوایدو زیاتیدل دي چې د ۲۰۱۵ کال په پیل کښې د دولت په عوایدو کښې لږ تر لږه ۷۰۰ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی، د یو ثابت اضافي ارزښت په توګه د تولید او عمومي انکشاف په وده کښې د زیاتوالی له نظره بهبود رامنځته او داسې اټکل شوی چې امکان لري چې د تولید او عمومي انکشاف په برخه کښې د ۲۰۲۰ څخه د ۲۰۲۲ کال پورې د ۱ څخه تر ۲ ٪ پورې زیاتوالی رامنځته کړي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له مخې د عواید یوه بله ډاډ ورکونکي وسیله د کانونو عواید دي، چې تمه کیږي له هغه درکه به د ۲۰۲۰ کال پورې د ۶۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات عواید را منځته کړي یا په بل عبارت په تولید او عمومي انکشاف کښې به ۲ یا ۳ ٪ پرمختګ سبب و ګرځي. همدارنګه دولت د ګمرکاتو محصول او د کانونو د استخراج عواید چې د عینک او حاجیګک څخه به لاس ته راځي د عوایدو د نور منابعو په توګه په ګوته کړي دي. په ګمرکاتو کښې د عوایدو د راټولولو په لار کښې د فساد او درغلۍ د شتون پر وړاندې مبارزه مهمه ده تر څو ګټورتیا رامنځته شي، ځکه چې د ګمرکاتو ځینې مامورین داسې نظر وړاندې کوي چې د تر ۷۰٪ زیات عوایدُ په سرحداتو کښې ورکیږي، دا په داسې حال کښې ده چې د فساد پورې اړوند موضوعاتو د صنایعو په سکتور کښې د طاعوني ناروغۍ بڼه خپله کړیده او چارواکو د صنایعو د تولید او د کانونو د استخراج د امتیاز حق پیسې او د استخراج مالیه نه دي تر لاسه کړي، په داسې حال کښې دا ستونزه د موثرو تضمینونو نشتونپه صورت کښې د کورنیوعوایدو وړاندیز شوی ونډې امکان کمزوری کوي.

د عوایدو دا سرچینې د کورنیو عوایدو د زیاتیدواو د بودجې د ځواکمن کولو امکانات لري، مګر لا تر اوسه ډیر خنډونه وجود لري چې د په خپلو پښو و دریدلو او ددغه هدف د عملی کیدو په لار کښې خنډان جوړوی. تر ټولو لمړی، د ثابت اضافي ارزښت د تطبیق موضوع ځنډیدلې ده او د نړیوال بانک پروژې وایي چې یو ثابت اضافي ارزښت به د ۲۰۱۶/۲۰۱۷ کال پورې عملي بڼه و نه نیسي. دوهم، په دوامداره توګه څو ګواښونه د کانونو د استخراج په لار کښې خنډ دي، تر څو د هغه لارې عواید تر لاسه شي: په ترانسپورټي ساتلو او څارنه (حفظ او مراقبت) کښې د پانګې اچولو نشتون، د کانونو د کارکونکو لپاره د فزیکي نا امنۍ، او د یو مناسب قانوني چوکاټ نشتون چې د خصوصي پانګې اچوني ملاتړ وکړي او شفافیت او حساب ورکونه را منځته کړي. او بالاخره، د رشوت او فساد پر وړاندې ګتور نه دي ثابت شوي نو په ګمرکاتو کښې د دولتي مامورینو تر منځ فساد پر خپل حال پاته دی، په داسې حال کښې د دولت یو لوړ پوړی چارواکي یعنې د ګمرکاتو عمومي رئیس وایي چې سږ کال د سوداګرۍ په عوایدو کښې ۰۱ ٪ لږوالی د ګمرکي عوایدو د زیاتوالي مخه نیسي. نړیوال بانک هم دا یادونه کړې چې د پاملرنې وړ مالي مرسته پکار ده چې په خصوصی سکتور کښې پانګونه وشي تر څو د مالیاتو بنسټ قوي کړي.

د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې د تیر کال لنډه کتنه دا ښکاره کوي، چې د مالیې وزارت کوښښ کړی چې د ګمرکاتواو مستوفیت په ادارو کښې د لوړ پوړو چارواکو د بدلون له لارې د رشوت او فساد مخه ونیسی. په هر حال، دا بدلونونه په زیاته کچه سمبولیک وو او د رشوت خورو کارکونکو د دندو څخه د ګوښه کولو پر ځای په بدلولو را بدلولو ولاړ وو. پر دې سربیره، لا تر اوسه د څارنې او ارزونې ګټور سیستم پکار نه دی اچول شوی چې په دولتي مهمو ادارو کښې، لکه د مالیې وزارت د ګمرکاتو عمومي ریاست او د کانونو په وزارت کښې، د عوایدو د راټولولو څارنه وکړي. که څه هم د دولت یو لوړ پوړي چارواکي یعنې د ګمرکاتو عمومي رئیس د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې سره د مرکې پر مهال د کارونو اتوماتیک سیستم ته اوښتلو ته د ګمرک د پاکیدو پروسه یوه "ربښتوني انقلابي" پروسه وویله، خو د ګمرک د اتومات کیدلو سیستم (ASYCUDA) تطبیق د هغه تر معرفي کیدو ۱۰ کاله وروسته لا تر اوسه هم کومه مثبته اغیزه نه درلوده، سره له دې چې د ګمرک په عوایدو کښې زیاتوالی راغلی دی، رشوت لا په پراخه پیمانشتون لري. د کانونو وزارت په اړه باید و ویل شي چې نړیوال بانک تمویل شوې پروژې یعنې د طبعي منابعو د انکشاف دوامدار کیدلو د پروژې پړاو وتوانیده چې د کانو په اسخراج کښې د شفافیت را منځته کیدو ابتکار او مدني ټولنو سازمانونه رامنځته ته کول تر څو د وزارت کارونه وڅاري، مګر د څارنې او ارزونې د یو سیستم رامنځته کول لا تر اوسه د پروګرام برخه نه دي جوړ شوي. پر دې سربیره، په هر ولایت کښې د عوایدو یو ربښتوني نقشه نه ده جوړه شوې چې د واقعي عوایدو او راپور ورکول شوو عوایدو تر منځ یوه مقایسه وکړی شي.

## ۳.۲ ساتنه او څارنه (حفظ او مراقبت)

د دولت جوړونې د بهیر څخه د یوې لسیزې زیات تیرشوي دي چې د یوې اوږدې جګړې وروسته د افغانستان د بیا رغونې ملاتړ وشي او اقتصادي وده ممکنه کړي او دا مرسته وکړي چې تلپاته او اوږ مهالی انکشاف رامنځته شي. د عمومي سکتور شتمنۍ لکه سرکونه، پلونه، روغتونونه او ښوونځي یا آباد شوی او یا له سره رغول شوي تر څو د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت د خدماتو وړاندې کولو له لارې د دولت عمومي او غیری دولتي فعالیتونو کښې آسانتیا رامنځته کړي. د دې په رڼا، د افغانستان د بیارغوونې د مرستې صندوق د ساتنې او څارنې (حفظ و مراقبت) د تاسیساتو مالي ملاتړ و کړ تر څو لاسته راوړنې وساتي او دوامداره پاته شي. د زیربنایي شتمنیو جوړول او په تیر کال کښې د هغوي سره د حفظ او مراقبت د لګښتونو ملګري کول د پام وړ مصارفو ته اړتیا

لري او دا په داسې حال کښې ده چې بهرنۍ مرستې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته مخ په لږېدو دي د پوره حفظ و مراقبت دوامداره پاته کيدل د لمړيتوبونو د غوره کولو سختو تصميمونو ته اړتيا لري چې کومه شتمني وساتل او څارنه يې و شي او کومه نه شي.

آيساف داسې اټکل کړی دی چې هر کال به د پوځي زيربناو او وسايلو د ساتنې او څارنې لپاره ۳.۵ ميليارده امريکايي ډالر پکار وي. دا لګښتونه به په ترميماتو، د اوبو، برېښنا لګښتونو ړرکولو، او د افغانستان د ملي امنيتي خواکونو د قرارګاګانو د عادي فعاليتونو او په ټول هيواد کښې د پوليسو د مرکزونو، د موجوده او پلان شوو نوو را نيول شوو تجهيزاتو، ترميماتو او څو نورو متفرقه لګښتونو لپاره کارول کيږي. آيساف اټکل کوي چې د ساتنې او څارنې (حفظ او مراقبت) غير امنيتي لګښتونو لپاره ۱.۳ ميليارده امريکايي ډالر د غير امنتي شتمنيو د ساتنې او څارنې لپاره لږ دي. دا شمير پيسې د شتمنيو د حفظ او مراقبت (ساتنې او څارنې) لپاره پکار دي. د ماليې د وزارت د بودجې د عمومي رياست د يو لوړ پوړو دولتي چارواکو په وينا چې د سولې او دموکراسۍ د يو شانوالي مؤسسې سره يې په خپله مرکه کښې کړې ده چې: "حتی يو ميليارد ډالر به هم د غير امنيتي حفظ او مراقبت لګښتونه لپاره يو ټيټ اټکل وي، تاسې د ملي پيوستون د پروګرام په سطحه د يو حالت لپاره فکر وکړي"

د ۲۰۱۳ کال يو راپور روښانه کوي چې په نژدې راتلونکې کښې د منظمو اقداماتو نشتون ته اشاره کوي. پردې سربيره، چې په انکشافي برخه پانګونه کميږي، د ولايتي بيارغوني ډلې، چا چې په ټول افغانستان کښې يو شمير پرمختيايي پروژې تر سره کړې دي، په ۲۰۱۴ کال کښې د هغو ځايونو څخه وتلي دي، چې دا بيا په لوړه کچه د د ولايتي بيارغونې د ډلې د کارونو د سرته رسيدو او تطبيقي پلان څخه د مخه صورت نيسي. د بيلګې په توګه، د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ عمومي بودجه، ۲۸ ميليونه امريکايي ډالره د سرکونو د حفظ او مراقبت لپاره تخصيص شوې وه، په داسې حال کښې چې دا کار په تخميني ډول ۲۹۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته اړتيا لري. د تاسيساتو او زيربناو په شمير کښې زياتوالی به حکومت د حفظ او مراقبت لپاره د پيسو برابرولو په برخه کښې د ۱۳۹۴ مالي کال د بودجې جوړول د يو بلې ستونزې سره مخامخ کړي.

د يادونې وړ ده چې د سولې او دموکراسۍ د يو شانوالي د مؤسسې په ولايتي مشورتي غونډو کښې، يوې ډلې خلکو سره د خبرو پر بنسټ داسې راپور ور کړ چې حکومت د ښوونې او روزنې د تاسيساتو حفظ او مراقبت کوي. ولې نورو په باميان کښې داسې و ويل چې ځينې وختونه حکومت د روغتيايي تاسيساتو حفظ او مراقبت کوی.، په نورو دريو ولايتونو کښې چې مشورې پکښې تر سره شوي خلکو ويلي دي چې حکومت د موجوده تاسيساتو لپاره د حفظ او مراقبت لګت نه ورکوي. خلکو راپور ورکړی دی چې سره له دې چې د حفظ او مراقبت په برخه کښې يوه ستره نيمګړتيا موجوده ده، اوس يوازې غير دولتي مؤسسې په پراخه کچه دا مسئوليت په غاړه اخلي، چې دا يوه بې پايښته وسيله ده، چې د موجودو تاسيساتو او زيربناو حفظ او مراقبت په غاړه لري.

## ۳.۳ د بودجې تطبيق

د ماليې وزارت په ۱۳۹۲ کال کښې د ۱۳۸۸-۱۳۹۲ کلونو ستراتژيک پلان له مخې، د ۹۵٪ عمومي بودجې، ۱۰٪ د عادي بودجې، او ۸۵ ٪ د انکشافي بودجې د لګولو هدف ټاکلی دی. د ماليې وزارت ۱۳۹۳ کال کښې د بودجې د تطبيقي راپور له مخې د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱۵ پورې، ۹۴ ٪ عادي بودجه تخصيص کړې ده، او ۵۰٪ يې د انکشافي بودجې تخصيص کړې دی، په داسې حال کښې ټوله بودجه ۷۶٪ تخصيص شوې وه. په هر حال، د ۱۳۹۳ کال د عادي بودجې يوازې ۶۶ ٪ عملاً مصرف شوې ده، د ۱۳۹۳ کال د انکشافي بودجې د ۵۴ سلنې (عمومي بودجې) څخه يوازې ۳۵٪ انکشافي بودجه مصرف شوې ده. په عمومي توګه، سره له دې چې مالي کال پای ته نه دی رسيدلی، د بودجې په تطبيق کښې داسې معلوميږي چې حکومت خپل ټاکلی هدف نه دی تر سره کړې او داسې ښکاري چې د بودجې د لګښت اندازه، او همدارنګه د ستراتيژيک پلان د ټاکل شوو اهدافو تر منځ يو پراخه يعنې ۸ ٪ توپير وجود ولري.

په انکشافي بودجه کښې د بودجې د ټيټ تطبيق اندازه کيدای د خدماتو وړاندې کونکې لکه ښوونځي او روغتونونه د مالي او مادي نظره د نيمګړتياو سره مخامخ کړي. همدارنګه به د بل کال لپاره بودجه لږه وي، ځکه بودجه قسماً د تير کال د لګښتونو پر بنسټ جوړيږي. څرنګه چې د بودجې د تخصيص او لګښتونو د تطبيق وروستي راپور په ګوته کوي، د عادي بودجې تطبيق اساسا په ولايتي سطحه يوه مهمه موضوع ده، ځکه چې د ماليې د وزارت تخصيص په عادي توګه ۹۳٪ دی پداسې حال کښې چې لګښت ۶۶٪ دی.، مګر د بودجې تطبيق د انکشافي بودجې په برخه کښې هم په مرکزي سطحه يو مشکل دی، ځکه د ماللې وزارت بودجوي تخصيص يوازې ۵۰٪ او لګښتونه ۳۵٪ دی. د مالي چارو د تنظيم يو کار پوه چې د سولې او دموکراسۍ د يوشانوالی مؤسسې ور سره مرکه تر سره کړې، ټينګار کوي چې د بودجې تطبيق يو دومره ګران کار نه وی لکه ځينې چې د هغوي اړه خبرې کوي چې د بودجې تطبيق يوه ستره ستونزه نه ده لکه يو شمير خلک کوښښ کوي هغه ستره و ښايي، ځکه هر کال معلوم لګښتونه لري. دا د بوجې د لږ تطبيق د اندازې سره سره بيا هم له يو کال څخه بل ته زياتيږي، چې کيدای شي د بودجې تدريجي زياتوالی ته د ملاتړ سبب شي، ځکه چې يو څو کاله وروسته به په کورنيو عوايدو کښې زياتوالی راځي (تر دغه کاله خبره همداسې ده). دا حالت داسې غوښتنه لري چې تدريجي زياتوالی د ۵۰ سلنې پورې د بودجې ورکونکي مرسته کولای شي چې لګښتونه لوړ شي، سره له دې چې يو کال پر بل پسې د بودجې لږه تطبيقي اندازه د دې حقيقت نفي نه شي کولای چې د بودجې لګښت د قوي انديښنې وړ خبره ده او په مرکزي او ولايتي سطحه بايد ور ته کلک پام وشي.

## ۳.۴ د مرسته ورکونکي اختیاري صلاحی

د مالیي وزارت د همکارۍ خبرې اترې د ۲۰۱۴ د جولای په میاشت کښې پیل کړې دي. دا غونډې د ۲۰۰۶ کال را پدې خوا صورت نیسي تر څو په تیر کال کښې د هر مرسته کونکي د لاسته راوړنو بیا کتنه وشي او ملاتړ ته اړتیا لرونکو ساحو باندې خبرې وشي. ۲۰۱۴ لمړی کال دی چې د ملل متحد ټولو ادارو په دې بهیر کښې ونډه اخستې ده. غونډې د ۲۰۱۴ کال د آګست په میاشت کښې، د انکشافي همکارۍ په راپور پای ته ورسیدې چې په سپتمبر کښې باید خپور شي، خو داسې یو سند لا تر اوسه وجود نه لري. تر ټولو زیات نوی راپور د ۲۰۱۲ کال راپور دی.

د افغانستان ملي بودجه په داسې ډول ترتیب شوې ده چې د دولت له خوا د مرستو د کنټرول اسانتیا برابره کړې، یعنې پیسې باید په پرله پسې توګه د افغانستان عمومي بودجې ته داخل شي او مرسته کونکي د عمومي بودجې څخه بهر مرسته شو پیسو د کنټرول صلاحیت ولري. په بودجه کښې د ورستي زیاتیدو سره سره بیا هم، د عمومي بودجې یوه زیاته ٪ (په ۱۳۹۳ مالي کال کښې د انکشافي بودجې ۶۶ ٪)، د نړیوالو مرسته ورکونکو د احتیاطي صلاحیت لاندې پاته کیږي او د هر مرسته کونکي سره د قرار داد پر اساس د ځانګړو پروژو لپاره برابریږي، په داسې حال کښې چې د دولتي بودجې د لارې به مصرفیږي. د ۱۳۹۴ کال په بودجه کښې، اختیاري بودجه د انکشافي بودجې ۸ ٪ جوړوي.

په انکشافي بودجه باندې اختیاري صلاحیت لرل د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت لپاره د ښه حکومتدارۍ په لار کښې تل د اندیښنې وړ موضوع په توګه را برسیره شوې ده، دا په داسې حال کښې ده چې د نړیوالو مرسته کونکو پر ژمنو سربیره چې په انکشافي بودجه کښې به د عمومي بودجې لپاره ۵۰٪ زیاتوالی رامنځته کوي. د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې یوې ډیرې نژدې څیړنې دا معلومه کړې چې دا کوښښونه چې د بودجې ګټورتیا ښه کړي، ځکه د ولایتي بودجې ترتیب او د ظرفیت لوړتیا به بالخصوص د کورنې پر ځای ولاړ کورنې عواید او د آیساف د تلو وروسته د بهرنیو مرستو لړیدلو په صورت کښې که چیرې د افغانستان اسلامي جمهوری دولت ملي بودجه پوره اختیاري صلاحیت و نه لري یو غیر واقعي خبره وي. دا خبره هغه وخت را پورته شوه کله چې د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې د خزانې د عمومي د ریاست د لوړ پوړو چارواکو له خوا په شوې مرکه کښې وا ورېده چې وایي ولایتي بودجه (په انکشافي بودجه) باندې اختیاري صلاحیت نه لرل نا ممکنه کار دی.

په هر حال، په اختیاري صلاحیت کښې زیاتوالی چې په ملي بودجه بې ولري، د نړیوالو مرسته ورکونکو له لورې ورکول له څو اړخه ډیر ضروري دی، لکه د بیلګې په توګه په بودجه کښې د تطبیقي اجراآتو له پلوه رامنځته شوي اصلاحات. د مالي چارو د تنظیمولو یو کار پوه چې د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالي مؤسسې له خوا ورسره مرکه شوې دا یادونه کړې چې "په حکومت کښې د رهبرۍ موجودیت تر څو پروګرامونه د مرسته کونکو د علاقمندۍ سره برابر شي".

# ۴. د عامه مالي چارو تنظیم او اصلاحات

د تدریجي ظرفیت لوړتیا د پروسې له لارې، د مالیي وزارت عامه مالي چارې او د ملي بودجې جوړولو چارې په دوامداره توګه په لا ډیره ګټوره توګه د نړیوالو معیارونو سره سم سمبال کړې دي. په هر حال، ستونزې لا اوس هم پر مخ پرتې دي، ځکه د حکومت اجراآت اوس هم په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې په مرستو تکیه کوي، رشوت او فساد د منابعو د لړوالي د پوره کولو په لار کښې د اندیښنې وړ ده. د آیساف د ځواکونو وتل او د بهرنیو مرستو پیش بیني شوی لړوالی دا اړتیا په ګوته کوي چې باید د زده کړې یو چټک عمل تر سره شي تر څو د عامه مالي چارو تنظیم لپاره ګټور او حساب ورکونکی سیستم را منځته شي.

د مالیي وزارت یو ستراتژیک پلان جوړ کړی چې ۱۳۸۸ – ۱۳۹۲ تر پوښښ لاندې نیسي چې په هغه کښې خپله دیدګاه (ارمان) او رسالت، ارزښتونه او مقاصد، پروګرامونه او فعالیتونه، سازماني جوړښت، کلني لمړیتوبونه، د خطر د لړولو اقدامات، او د څارنې او ارزونې چوکاټ مطرح کوي. په داسې حال کښې چې دا پلان یوه څلور کلنه دوره د ۱۳۹۲ کال پورې تر پوښښ لاندې نیسي، د مالیي وزارت لا تر اوسه د دې ستراتژیک پلان پر بنسټ په ۱۳۹۳ کال کښې د اجراآتو راپورونه ورکوي، او کم نوی ستراتژیک پلان ترتیب شوی نه دی. په ورته ډول، په داسې حال کښې چې هرې ځانګې باید په ۱۳۸۸ کال کښې خپل ۵ کلن جوړ کړی وای، دا هم په ور ته توګه د اعتبار څخه لویدلې خبره ده، د عامه مالیي چارو د تنظیم لپاره د پلان او ستراتژۍ جوړونې چوکاټونو نشتون نیمګړتیا په ګوته کوي.

د مالیي وزارت د عامه مالیي چارو د تنظیم د نقشې لاندې دوهم پړاو اصلاحات د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ میاشت کښې د لمړني عامه مالیي چارو د تنظیم د اصلاحاتو د تکمیل څخه وروسته چې په ۲۰۱۰ کال کښې جوړ شوي وه، پیل کړې دي. د عامه مالیي چارو

د تنظیم اصلاحاتو دوهم پړاو د لمړي پړاو اصاحاتو ته دوام ورکوي، چې اساسي مقاصد یې د مالي مدیریت څارنې، راپور ورکولو اوکنټرول د معیارونو سره سمو مؤثرو تدارکاتو، خزاینو، او د تفتیش جوړښتونو او سیستمونو له لارې د عامه مالیي چارو د تنظیم ځواکمنتیا لپاره کار کوي، رامنځته کول دي.

د تطبیق د وروستي وضعیت او راپور د پایلو پر بنسټ، د انکشافي پروژې مقاصد به اوسطه توګه د رضایت وړ دي، او د تطبیق د کار د پرمختګ اندازه هم د رضایت وړ ده. د عمومي اصلاحاتو د جوړښت په اړه په عمومي ډول، د پام وړ پرمختګ را منځته شوی چې په پایله کښې یو تغیر را منځته شوی او هغه دا چې بودجه کښې برخه نه اخستونکي د بودجې په ملاترکونکو کښې شامل شوي، د سرته رسیدلو تدارکاتو ٪، چې د مربوطه وزارتونو د له لورې خپلواکو تدارکاتو، بشري منابعو، تدارکاتو او بشري منابعو زده کړې په برخه، او د وزارت د عامه مالي چارو او وزارتي ارزیابۍ سره سم سر ته رسیدلي دي.

د تدارکاتو د دفتر د جوړښت د نوی کولو د کار پرمختګ اوس هم د مربوطه وزارتونو او ولایتي دفترونو سره، د مربوطه وزارتونو داخلي تفتیش، د محاسبې د مسلکي کار لپاره د یو قانوني چوکاټ او د تفتیش د راپورونو کیفیت چې پارلمان ته وړاندې شوي دي د ټاکل شوی هدف څخه وروسته دی.

## ۴.۱ شفافیت او حساب ورکول

د دولت شفافیت او بنسټیز شوی حسابي میکانیزم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، نړیوالو مرسته ورکونکو، او ټولو افغانانو ته د درک وړ ده، چې د عامه مالي چارو تنظیم لپاره دا مهمه ده چې ځواب ورکونکی دی. د افغانستان دولت داسې اقدامات کړي چې شفافیت لا ښه کړي یعنې د لمړۍ بودجې معلومات یې له خلکو سره شریک کړي او داسې ښکاره کوي چې دا بودجه د خلکو لپاره جوړه شوې ده. په هر حال، د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسې وروستۍ څیړنې دا وړاندیز کوي چې د عام اوسیدونکي او د مدني ټولنو سازمانونه نا خبره ساتل کیږي او /یا نه توانیږي چې په بودجه پوه شي.

د افغانستان د اوسیدونکو د خوښې بودجه لمړۍ ځل په ۱۳۹۰ کال کښې پرانستوب ته په ژمنتیا او شفافیت په خاطر وړاندې شوه، او بیا همدا په دوهم ځل په ۱۳۹۳ کال کښې په دري، پښتو او انګلیسي ژبو نشر شوه. د خلکو بودجه د ملي بودجې یو ساده شوی متن دی چې د دولت عمده لمړیتوبونه، د بودجې سر[چینې، تخصیصونه او لګښتونه، په اساسي سکتورونو کښې اهداف او مقاصد، طرحه کوي. د مالیي وزارت همدارنګه په ۱۳۹۳ کال کښې ملي بودجې سند خپور کړ چې یو ډیر جامع سند دی، چې په هغه کښې د ۱۳۹۳ کال د بودجې ستراتژیک اهداف او لمړیتوبونه طرحه شوې وو. چې په هغه کښې به د هر سکتور لپاره په پراخه کچه اقتصادي لرلید، مالي ستراتژي او لرلید، د لګښتونو اجراآت او لر لید، د لګښتونو تحلیل او تجزیه او لرلید، د دولت د لمړیتوبونو تطبیق، بودجوي اصلاحات، ښاروالۍ، او دولتي تصدۍ شامل دي. دا راپورونه د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کښې موجود دي.

پردې سربیره، په ۱۳۹۳ کال کښې، د مالیي وزارت همدارنګه میاشتیني مالي راپورونه د دوهمې میاشتې څخه د نهمې میاشتې پورې په انګلیسي، دري او پښتو ژبو خپاره کړي دي. بیا هم د مالیي وزارت په پام کښې لري چې یو ربعوار مالي راپور هم خپور کړي، یوازې د لمړۍ ربعې راپور په انټرنټي لیکه شتون لري، او هغه هم یوازې په انګلیسي ژبه دی. میاشتیني راپورونه د بودجې مهمې برخې، د عوایدو او لګښتونو لنډیز، او د بودجو د تطبیق اندازه شامله ده. د لمړۍ ربعې مالیي خپرونه کښې ورته معلومات د لا نورو تفصیلاتو سره شامل دي، او همدارنګه د نوو پیښو لنډیز او د عمومي بودجې د ملاتړ په اړه راپور شامل دي. د مالیي وزارت همدارنګه د بودجې د تطبیق راپورونه هم د را ښکته کیدنکو ایکسل صفحو په بڼه د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ د میاشتې څخه را په دیخوا خپاره کړي دي، چې په دري او انګلیسي ژبو د جولای د میاشتې تر نیمایي پورې او بیا تر هغه وروسته یوازې په انګلیسي ژبه د کال تر پایه شتون لري. دا راپورونه د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کښې شته. د مالیي وزارت اداري مرستیال هم د اجراآتو شپږ میاشتیني راپورونه په ۱۳۹۳ کال او د ۱۳۹۳ کال د لمړۍ ربعې د اجراآتو راپور د ستراتژیک پلان په رڼا کښې خپاره کړي دي. چې دواړه یوازې په انګلیسي ژبه د مالیي وزارت په ویب سایټ کښې موجود دي. د بودجې عمومي ریاست د ۱۳۹۳ کال د بودجې مهال ویش په انګلیسي او دري ژبه او همدارنګه د ۱۳۹۴ کال د بودجې پلانر خپاره کړي دي، خو لا تر اوسه یې د ۱۳۹۴ بودجې متحد المالې لارښونې، لکه څنګه چې په ۱۳۹۳ کال کښې دا کار شوی وه نه دی شوی.

د ګمرکاتو او عوایدو معین د ۱۳۹۳ د عوایدو د راټولو او ټاکل شوو اهدافو په اړه یو لنډ راپور خپور کړی دی چې د ۲۰۱۴ کال د اپریل څخه د تر جولای میاشتې پورې دوره تر پوښښ لاندې نیسي. په هر حال، دا د عوایدو په اړه یوازینی موجود معلومات دی چې خلک ور ته په ۱۳۹۳ کال کښې لاسرسی لري. په هر حال، د عواید د څانګې د فساد او رشوت ورکولو په اړه یوه ټیلیفوني شمیره لري، چې د هغه پواسطه خلک کولای شي د مالیي د وزارت د مامورینو د فساد په اړه چارواکو ته راپور ورکړي او همدارنګه د برښنا لیک له لارې چې د همدې مقصد لپاره جوړ شوی دی، د شکایت د وړاندې کولو لپاره یو لارښود لري. پردې سربیره، د تدارکاتو د پالیسۍ څانګه د قراردادونو خپرولو ته په ۱۳۹۳ کال کښې په خپل ځانګړي سایټ کښې دوام ورکړی دی.

په برښنايي لیکه د راپورونو ترتیب او خپرول د شفافیت او حساب ورکولو لپاره یو هیله را پیدا کونکې ژمنه ده. په هر حال، دا مهمه ده چې یادونه وکړو په دغه برخه کښې محدودیت او په افغانستان کښې د معلوماتو قوانیونو ته دوامدار نه لاسرسی او د معلوماتو کلتور نشتون چیري چې، د یوې سروې له مخې چې په ۲۰۱۳ کال کښې تر سره شوې، انترنټ ته په عمومي توګه د ۳٪ څخه زیات د افغانان لاسرسی نه لري تر څو معلومات تر لاسه

لاسه کړي، نو دې پروسې میاشتې و نیولې خو دا مکتوب صادر نه شو. په ولایتونو کښې حکومتي ځانګو د هر ډول معلوماتو یا اسنادو د برابرولو څخه د تخصیص شوې بودجې او لګښتونو په اړه معلوماتو د شریکولو څخه ډډه وکړه. په افغانستان کښې د انټرنټ ته د نه لاسرسی او سواد د ټیټې کچې په نظر کښې نیولو سره، د لمړی لاس تجربې دا څرګندوي چې د شفافیت او حساب ورکولو په برخه کښې د عامه منابعو د مصرف، او په ځانګړي توګه په محلي سطحو یو ډیر زړه بوږنونکی حالت وجود لري.

کړي. دا فیصدي د راډیو په برخه (۸۰٪) د ګرځنده ټیلفون پرخه کښې (۵۷٪) او د تلویزیون په برخه کښې (۵۴٪) ده. د بودجې په بیا کتنه کښې، یو ډیر زړه بوږنونکی حالت څخه د شفافیت او حساب ورکولو نشتون په ولایاتي ځانګو کښې یادونه شوې او د راپور له مخې دا کار د مرکز په هدایت کړی دی. په کابل، هرات، او ننګرهار ولایاتونو کښې، د عامه روغتیا او ښوونې او روزنې یو یا دواړو رئیسانو د ټولې یا یوې برخې مرکې څخه ډډه کړې ده. دوی ځیرونکو ته ویلې چې نور مکتوبونه مرکز د نورو ادارو څخه راوړي. کله چې ځیرونکي کوښښ کړی تر څو دا ډول مکتوب په مرکزي سطحه د بلې پروژې د ځیرونې په مقصد تر

## ۴.۲ څارنه او ارزونه

د عامه مالي چارو د تنظیم یوه مهمه برخه د څارنې او ارزونې څخه عبارت ده کومه چې د ټولو پروګرامونو او میکانیزمونو یوه لازمي برخه جوړوي تر څو ولس د خدماتو د وړاندې کولو په مقصد د عامه مالي پروسو لکه د بودجې پلان جوړونه، د بودجې تطبیق او تخصیص څارنه او ارزونه وکړي. د عامه مالي او د لګښتونو د چاروتنظیم (سمبالښت) قانون چې په ۲۰۰۵ کال کښې جوړ شوی دی، دا اړتیا په ګوته کوي چې خپلواکه مفتیشین باید د تیرو مالي کلونو د مالي صورت حساب د مالي کال د پای ته رسیدو څخه د مخه د خپلواک تفتیش یو راپور تیار کړي چې په هغه کښې په مناسبه توګه د حسابونو تصدیق شوی وي، او باید پارلمان ته وړاندې شي او د ټولو خلکو په خدمت کښې واچول شي. د تفتیش عالي اداري ته د مالي انکشافاتو، اجراآتو او د مطابقت ورکولو تفتیش، دنده سپارل شوې، مګر زیاتې نیمګړتیاوې د تفتیش په لار کښې خنډ جوړیږي، نو له همدې امله په تیرو دوو کالو کښې په ۲۰۱۳ کال کښې د نړیوال بانک د راپور د خپریدو څخه د مخه د اجراآتو هیڅ ډول تفتیش نه دی تر سره شوی. د تفتیش د عالي اداري ظرفیتونه او تخنیکي توانمندي د نړیوالو معیارونو سره برابري نه دي، او د مطابقت ورکولو تفتیش راپور د ټولو خلکو په خدمت کښې نه دي اچول شوي.

د عامه مالي چارو د تنظیم کار یوه چې د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسې له خوا ورسره مرکه شوې ده د دې نیمګړتیاو په شتون باندې د تفتیش په سیستم کښې ټینګار کړی دی. لکه څنګه مرکه ورکونکو یادونه کړې چې "د تفتیش عمومي رئیس [څوک چې د تفتیش د سیستم مشري په غاړه لري] د نړیوالو معیارونو پر بنسټ خپله دنده د تفتیش د تر سره کولو په ډیره برخه کښې په سمه توګه نه ده تر سره کړې د بیلګې په توګه، هغه د اجراآتو او مالي صورت حساب خطر باندې استوار یو تفتیش نه تر سره کوي".

په دولتي اسنادوکښې، د افغانستان دولت ادعا لري چې یو څه اصلاحات یې د پورتني یاد شوي ستراتژیک پلان سره سم را منځته کړي دي او دا چې د ۱۳۹۲ کال د اجراآتو کلني مالي راپور په دري او انګلیسي ژبو ترتیب، او د مالیې وزرات ویب سایټ ته ور پورته شوی دی. د ۱۳۹۳ کال لپاره د راپور ورکولو فورمه او د څارنې چوکاټ او د هغوی شاخصونو، اساسي حالت او معیارونو بیا کتنه وشوه او د ستراتژیک پلان سره سمون ورکړی شو، چې د معلومامانو د را ټولولو لپاره باید ترې کار واخستل شي. پر دې سربیره، د آسیاې پراختیایي بانک د اجراآتو یوه ربعواره بیا کتنه د هر مربوطه وزارت د پروژې د ډلې سره د ۲۰۱۴ کال د لمړی ربعې لپاره د ۲۰۱۴ کال د آپریل په میاشت کښې تر سره شوه. د دې غونډو په پایله کښې، پر نتایجو ولاړ یو کاري پلان جوړ شو او په لوړه کچه تصامیم ونیول شول او وروستی غونډه د مالیې وزارت له خوا پر مخ یوړل شوه.

سره له دې هم، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د حساب ورکولو په سیستم کښې نیمګړتیاوې. لکه د بیلګې په توګه د دولت په کړنو باندې د څارنې نشتون د فساد د دوام سبب شوی چې د دولت پاملرنې ته اړتیا لري. د دولت د څارنې او ارزونې سیستمونو له نظره د نړیوالو قضیو مطالعې دا ښودلې ده چې د دولت د څارنې او ارزونې پراخه سیستم د عامه مالي چارو د سمون په برخه کښې د پاملرنې وړ ګټورتیا را منځته کولای شي او د بودجې د مناسب تخصیص ډاډ را منځته کوی ځکه داسې معلومات راټول شوي چې د مالي چارو سمبالښت کښې بهبود رامنځته کوي. دا تجربې د څارنې او ارزونې د سیستم د بنسټیز کولو په نتیجه کښې دا را زده کوي چې دا تجربې کیدای شي د افغانستان په حالت کښې هم ګټوري او د تطبیق وړ وي، ځکه د څارنې او ارزونې د سیستم به د موازي ادارو مخه ونیسي، بلکه پر ځای به یې د څارنې او ارزونې په موجوده د سیستم او رهبری جوړښت باندې نوره پانګونه وکړي، خو د حکومت او ملکي خدماتو ظرفیتونه اوهمدارنګه د معلوماتي ټکنالوژۍ کیفیت او د معلوماتو راټولولو موجود سیستمونه باید په پام کښې و نیسي، په داسې حال کښې چې د څارنې او ارزونې د سیستم د جوړیدو له لارې د دولت د لوړ رتبه چارواکو د اجراآتو ارزونه هم ممکن تر سره شي.

## ۴.۳ ولایتي بودجه

په ۲۰۱۴ کال کښې د ولایتي بودجې د پالیسۍ لپاره یوه مسوده جوړه شوه چې د کابینې تصویب ته منتظره ده. د ولایتي بودجې لپاره پخوانۍ هڅې هم د والیانو او د ولایتي ریاستونو د استازو په برخه کښې د اصلاحاتو په راوستلو کښې بې پایلې وې او په دې هم ونه توانیدې چې په مربوطه وزارتونو باندې پوره تمرکز وکړي. د یو ایس ای ای ډي له مخې، په دې برخه کښې نوی پالیسي هم د وزارتونو، ولایتي ریاستونو او د والیانو د دفترونو ترمنځ په همکارۍ او هم ولایتي شوراګانو سره په سلامشوره او له دوی څخه د مرستې په اخستلو باندې ټینګار کوي، په ټولو ۴۳ ولایتونو کښې د بودجې د سرچینو لا عادلانه ویش هڅوي، ولایتي سلامشورۍ، ولایتي پلان جوړونه او ولایتي نظارت سره مرسته کوي او د بودجې په اجراء کولو کښې د ولایتونو رول روښانه کوي خو بیا نور دلایل ښایي چې که څه هم دا خبره هیله پیدا کوي خو مشخصات نلري. سربیره پر دې، تر اوسه دغه پالیسي د روان کال د سیاسي قدرت د ستونزمن انتقال له امله نه ده تصویب شوې او دا هم روښانه نه ده چې نوی نظام به ددې پالیسۍ په اړه څه موقف ولري.

د مالیې د وزارت په وینا د ۱۳۹۴ کال لپاره ټول بودجوي واحدونو څخه غوښتنه شوې وه چې خپلې بودجې د ولایتي تقسیماتو پر اساس را و استوي، دا روښانه نه چې دا کار تر سره شوی او که نه، ځکه هغه بودجه چې پارلمان ته لیږل ولایتي ویش پکښې په نظر کښې نه دی نیول شوی. د ۱۳۹۳ کال په بودجه کښې ولایتي ویش په نظر کښې نیول شوی او په دري او پښتو ژبه تیار شوی وه.، مګر داسې معلومیږي چې دا کار د بودجې د جوړولو څخه وروسته تر سره شوی وي. پر دې سربیره، که چیرې بودجه د ولایتي ویش پر اساس وړاندې شوې وه، نو دا داسې څرګندوي چې لمړیتوبونه په مرکزي سطحه په ګوته شوي نه په ولایتي سطحه، په داسې حال کښې چې ولایتي انکشافي پلان چې غوښتنه کوي چې ولایتي بودجوې سیستم باید د اړتیاو او ضرورتونه پر بنسټ جوړ شي، پکار نه دی اچول شوی. دا خبره د بودجې د عمومي ریاست یو لوړ پوړې چارواکي کړې ده چې ولایتونه په دې برخه فعال شوی نه دي. یوه مرکه کونکي و ویل چې هغه هیڅکله د ولایتي انکشافي پلان په باره کښې د بودجې د وړاندې کولو پر مهال څه نه دي اوریدلي. نورو یادونه وکړه چې ولایتي انکشافي پلانونه ترتیب او وړاندې شوي دي چې د هیلو یو فهرست په څیر ښکاري نه د یو ربښتیني پلان په څیر او سمه توګه قیمت ګذاري شوي نه دي، او په مرکزي سطحه یو لوړ پوړی دولتي چارواکی وایي چې په ولایتي کچه د بودجې د جوړولو ظرفیت ډیر ټیټ دی. په هر حال هغه مرکې چې په مرکزي او ولایتي سطحه د دولتي چارواکو سره تر سره شوي دي، ځیني کوچني اصلاحات تر سترګو شوي دي. د بودجې بهیر په لوړه کچه په مرکز پوري تړلی پاته دی او ولایتي بودجوي اصلاحات اوس کاملا توقف دي. د ولایتي بودجوي د سیستم تاسیس مخه اختیاري صلاحیت لرلو ډب کړې ده. دا خبره د د خزاینود ریاست یو لوړ پوړې چارواکي په ورزارت مالیه کښې د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسې سره په یوه مرکه کښې کړې ده.

## ۴.۴ پر نتایجو ولاړ پروګرام د بودجې جوړول

په افغانستان د بودجې عنعنوي لاره دا وه چې بودجه د اقتصادي لمړیتوبونو په ظاهري ارزښتونه لکه، تنخواګانې، مالونه او خدماتو پر بنسټ جوړه شي نه دا چې د هغه د مشخصو نتایجو او مطلوبو پایلو په اړه فکر وشي. د بودجې جوړولو سنتي طریقه د تولید په اړه یا هیڅ معلومات او یا ډیر لږ معلومات ورکاوه چې څه باید تولید شي، کوم خدمات عرضه شي او باید کومې لاسته راوړنې ولري. د دې لپاره پر نتایجو ولاړ پروګرام د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا د پالیسۍ کښې د اصلاحاتو د برخې په توګه معرفي شو چې مقصد یې بودجې ته د ځانګړو د پالیسیو د پروګرامونو او نتایجو سره چې د افغانستان د ملي انکشافي ستراتژۍ او د ملي پروګرامونود لمړیتوبونو سره پیوند ورکول وو، ترتیب شو، تر څو یوې مناسبې بودجې جوړولو ډاډ تر لاسه شي. بل مقصد یې دا وه چې د بودجې جوړولو پروسه زیاته شفافه او د دولتي چارواکو د حساب ورکولو سیستم را منځته کړي.

د مالیې وزارت په وینا، د ۱۳۹۳ کال لپاره ټولو بودجوي واحدونو خپلې بودجې د پروګرامونو د بودجې د میکانیزم سره یوځای وړاندې کړې، او د همدې تجربې څخه د ۱۳۹۴ کال لپاره هم ګټه واخستل شوه. د پروګرامي بودجې سیستم په کار اچولو سره سره بیا هم، په ځینو مواردو کښې د سنتي بودجوي سیستم اوس هم په ځینو مربوطه وزارتونو کښې هر کال استعمالیږي او د بودجې په تدوین کښې تری کار اخلې. د ۲۰۱۳ کال څیړنه دا هم را په ګوته کوي چې په عمومي توګه پرمختګ لیدل شوی، ځکه د بودجې د پیچلې سیستم پر ځای د بودجې د جوړولو پیچلو موضوعاتو د حل لپاره د ساده اقداماتو څخه کار اخستل شوی دی، د بودجې د عمومي ریاست د یو لوړ پوړي چارواکي له خوا د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسې سره د مرکې پر مهال ټینګار شوی دی. هغه دا هم ویلي دي چې اوس هم په وزارت کښې د ظرفیت مشکلات شته، لکه د پایلو ژبه (د پروګرام بودجې جوړول). پردې سربیره، د ۱۳۹۳ کال د بودجې د تطبیق راپورونه څرګندوي چې د پروګرام بودجې جوړونه لا اوس هم ګتوره نه ده ثابته شوې، ځکه دا راپورنه اوس هم په زاړه سیستم تیاریږي، ځکه د بودجې تطبیق د سکتور په سطحه ښودل کیږي نه د بیلا بیلو پروګرامونو د ویش پر اساس. نور راپورونه چې د پروګرامي بودجې د اغیز ارزونه د بودجې د موثریت له مخې کوي وجود نه لري.

## ۴.۵ د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکی بودجه

د ۱۳۹۳ کال د بودجې جوړولو دولتي اسناد دا څرګندوي چې (BC۲) د بودجې جوړولو لپاره ځانګړي کړنلارې لري، چې هغه د ماليې وزارت سره مرسته کوي چې د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکی بودجه د هغو شپږو وزارتونو لپاره چې د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکی بودجې په ازمېښتي پروګرام کښې شامل دي جوړه کړي. لارښوونې دا خبره واضح کوي چې د ماليې وزارت بايد يو لارښود تيار کړي چې په هغه کښې د جنسيتي موضوعاتو سره تړاو لرونکو ذينفعه اړخونو په هکله تحليل او تجزيه، او د خدماتو په وړاندې کولو کښې برابري په نظر کښې نيول شوي وي.

دا لارښود د ماليې وزارت ته دا يادونه کوي چې دا ډاډ ورکړي چې هغه بودجه چې د شپږو آزمېښتي وزارتونو له خوا وړاندې شوې ده په هغو کښې مقاصد، لاسته راوړنې، د اړتياو د په نخښه کولو لپاره د کيفيت او کميت لرونکی معلومات او هغه مشخص اقدامات چې بايد تر سره شي، تر څو د جنډر مربوط شاخصونو ته پام وکړي چې د جنسي نا برابرۍ د کمولو نتايج معلوم کړي. دا هم مشخص کوي چې شاخصونه بايد د هغه څه سره سمون ولري چې د افغانستان د ښځو ملي کاري پلان او د افغانستان د ملي انکشافي ستراتژۍ له لورې د جنسيت له نظره د برابرو حقوقو سپارښتنه شوې ده . دا لارښود دا يادونه هم کوي چې د پروګرام لپاره د قيمتونو ټاکل او د بودجې تطبيق بايد د ښځو ګټه اخستونکو فيصدي او په تخصيص شوې بودجه کښې د هغوی ونډه په نظر کښې ونيسي. کله چې د انکشافي پروژو لپاره ليکل کيږي، نو ازمېښتي وزارتونه مکلفيت لري چې د جنسيت ځانګړي اړتياوې يعنې د ښځو ګډون، د پروژو فيصدي، د ښځو او نرو ګټه اخستونکو فيصدي په پام کښې ونيسي. د ماليې وزارت د وينا له مخې، په ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کال کښې، شپږ مربوطه آزمېښتي وزارتونو خپلې بودجې د جنسيتي برابرۍ د اقداماو په نظر کښې نيولو سره وړاندې کړې دي. تر اوسه دا ډاډ نشته چې تر کومه ځايه هغوی دا ټول لارښودونه په سمه توګه په کار اچولي دي، نو له همدې امله به بودجه د سولې او دموکراسۍ د پوشانوالي مؤسسې د بودجې په توسعوي راپور کښې بيا کتنې لاندې و نيول شي. په هر خال دا روښانه ده چې موجوده لارښود د جنډر د بودجې کوم صورت حساب يا د جنډر پورې اړوند ګټه اخستونکو پر بنسټ د بودجې ويش ترتيب شوی وي.

پردې سربيره دولت، د جنډر پر بنسټ د بودجې کوم صورت حساب نه دی وړاندی کړی، او فعلا يې د جنډر له مخې د بودجې د لګښتونو د تقسيماتو، پروګرامونو او ګټه اخستونکو کومه فيصدي يا د جنډر برابرۍ ته د ودې ورکولو په خاطر کوم منطق نه دی وړاندی کړی. د يوې بنسټيزې، او د جنډر له نظره د ګټورې بودجې صورت حساب په نشتون کښې، داسې نه بريښي چې دا معلومات د په ټولو سکټورونو کښې را ټول او توحيد شوی وي نو له دې امله داسې نه ښکاري چې بودجه د خلکو اړتيا پوره کړې او د جنډر برابرۍ ته د ودې ورکولو له نظره په ځانګړې توګه د ښځو اړتياوې پوره کړي.

## ۴.۶ هغه بودجه جوړونه چې د خلکو اړتيا او د پاليسۍ ژمنې پوره کړي: د روغتيا او ښوونې او روزنې د وزارت د قضيو مطالعه

په ټوله تيره لسيزه کښې، په ټولو سکټورونو کښې د بيلا بيلو پاليسو د مطرح کولو او ستراتيژيو د جوړولو لګه د افغانستان د ملي انکشافي ستراتژۍ، د پروګرامونو د لمړيتوبونو پلان، د افغانستان د زريزې پرمختيايي موخې او ځينو مشخصو سکټورونو او منځمهالي پلانونو له لارې ډيرې بې شميره ژمنې شوې دي. په داسې حال کښې چې د پاليسيو دا ژمنې هيلې رامنځته کوي، هغوی ته د عمل جامه ور اغوستل چې پر نتايجو بدل شي د بودجې د تخصيص او حقيقي لګښتونو له نظره پوره ژمنتيا ته اړتيا لري. د بودجې د بيا کتنې د يو جزء په حيث، په څلورو ولايتونو کښې مشورې تر سره شوې، چې په مشخصه توګه يې دوه سکټورونه د بحث لاندې نيولي وو – عامه روغتيا او ښوونه او روزنه – د اجراآتو او بودجې لمړيتوبونه د ځينو مهمو شوو ژمنو او ټاکل شوو هدفونو سره په پرتله ارزوو، او همدارنګه د اجراآتو او مهمو موضوعاتو په اړه د خلکو نظريات په هر سکټور کښې را اخلو. د تخصيص په نظر کښې نيولو سره په بنسټيزه سطحه باندې د هر سکټور لپاره د ۱۳۹۴ کال په ملي بودجه کښې د په نخښه شوو لمړيتوبونو ارزونه به د سولې او دموکراسۍ د پوشانوالي مؤسسې په توسعوي راپور کښې تحليل اوتجزيه او همدارنګه به په ټولنيزه کچه د هغوی د اهميت درجه د هر ولايت لپاره معلومه کړای شي. دا ډيره مهمه ده چې يادونه وشي چې هغه نظريات چې د لته يې انعکاس موندلی د هغو کسانو چې مرکې ورسره شوې دي د هغوی تجربو او برداشت پورې اړه لري . په هر حال، دا په ټولنيزه سطحه ارزونه د دې لپاره صورت نيسي چې هم د پرمختګ اندازه د مهمو شاخصونو سره په پرتله معلومه او په اساسي برخو کښې د ضرورت لرونکي ساحې په ګوته او د دوه نومړو سکټورونو لمړيتوبونو ته پام وشي.

### د عامې روغتيا وزارت

د ټاکلو اهدافو تر لاسه کول او د پکار اچول شوومنابعو څارل

د روغتيايي خدمتونود بنسټيزې کڅوړې يا بې پي ايچ اس د هدف په توګه چې د ټول نفوس ۶۹٪ د پوښښ لاندې راولي او د ملي پروګرامونو په لمړيتوبونو کښې هم روښانه شوی ده داسې بريښيدل چې دولت په هرات کښې په متوسطه توګه ښه کارکړی دی چې د اوسط اندازې له مخې يې ۶۰٪، په باميان کښې يې لږ تر لږه ۴۸٪ او په کابل او ننګرهار ولايتونو کښې يې ډيره کمزوري کړنې درلودلې دي. په دغه ولايتونو کښې د اداری فساد او د روغتيايي کلينيکونو د نشتون له امله او يا د دوارو له امله په منځنۍ توګه يوازې له ۰ څخه نيولی تر ۳۰٪ پورې خلکو ويل چې دوی دغو خدمتونو ته لاسرسی درلود. د ټولو ولايتونو هغو خلکو چې خبرې ورسره شوې وې وويل چې دولت د زيږون پر وخت د مور د مړينې او له ۵ کالو څخه د کم عمره ماشومانو د مړينې په کمولو کښې ښه کار کړی دی تر دې چې له خپلو اهدافو څخه يې هم ښه کړنې تر سره کړې

دي. همدا راز د تیتانوس، خناق یا او توري ټوخلې او د شري ناروغۍ څخه بې د یو کلنو ماشومانو په خونډیتوب کښې زیاتوالی راوستی دی. همدا راز، د ټول ولایتونو د ټولني د غړو دا ګمان و چې د زیږون متخصصین ۵۰٪ زیږونو ته د لاسرسي هدف پوره کړی دی خو په عمومي ډول یې له دې زیات کار نه دی کړی. په ټولو ولایتونو کښې ډیری خلک په دې باور وو چې که څه هم په هره ولسوالۍ کښې امبولانسونه شته خو ټول په دې موافق وو چې دغه امبولانسي خدمتونه د امبولانسونو د شمیر او د دغو خدمتونو د ادامې له پلوه ناکافي دي. همدا راز، هغو خلکو سره چې مشوره ورسره شوې وه په دې ګمان وو چې هغه دارو درمل چې په دولتي کلینیکونو کښې ورکول کیږي ناکافي دي، د ټیټ کیفیت لرونکي دي، بیه یې ډیره لوړه ده او یا دواړه لاملونشتون لري.

## اساسي ستونزې

په ټولو ولایاتو کښې د عامې روغتیا سکتور د کلیدي ستونزو د جملې څخه د کلینیکونو نشتون، د امبولانسونو نشتون، د ډاکټرانو او د روغتیایي پرسونل نشتون، د ډاکټرانو کمې زده کړې، د درملو نشتون، د درملو ټیټ کیفیت او اداری فساد په ګوته شوي. ځینو خلکو دا هم ویل چې د روغتیایی سامان آلاتو نشتون، د دولت لخوا د نظارت نشتون او د عامه روغتیا په اړه د عامه اګاهۍ نشتون له سترو ستونزو څخهګڼاً کیږي. له څرګند ستونزو څخه دا هم وه چې د نیمګړتیاوو په اړه دولت ته د خلکو شکایتونه زیات شوي دي ځکه چې دوی له دولت څخه دا تمه لري ترڅو داسې عامه کارونه وکړي چې د دوی اړتیا پوره کړای شي.

## د دولت انځور

که څه هم د کابل او ننګرهار ولایتونو د عامې روغتیا ریاستونو له دې ډېره وکړه چې د ای پي ډي د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسې لخوا د بودجې د بیا کتلو څیړنې سره مرسته وکړي خو په بامیان او هرات ولایتونو کښې تر سره شوې مرکې د شفافیت د نشتون او یا د وګړو د اصلي حالت څخه د عامې روغتیا ریاست د بې خبرۍ ښودنه کوي. د دواړو ولایتونو د ریاستونو چارواکو دا ادعا کوله چې دوی په بشپړه توګه د زیږون پر وخت د مور مړینه او د ۵ کالو څخه د کم عمره ماشومانو مړینه له منځه وړې ده او له یو کال څخه کم عمره ماشومانو ته یې د واکسین ورکولو کچه ۱۰۰٪ زیاته کړې ده. دوی ویل چې دوی د بې پي ایچ اس هدف له ۶۹٪ څخه زیات پراخ کړی دی او دا ادعا یې هم کوله چې دوی د هرات ولایت ټولو سیمو ته روغتیایي اسانتیاوې رسولې دي پرته له یوڅو سیمو چې امنیتي ستونزې لري. د دواړو ولایتونو چارواکو دا ادعا هم کوله چې دوی د زیږون متخصصینو د زیږون۵۰٪ هدف څخه زیات کار کړی دی او تر دې چې د بامیان ولایت چارواکو دا ادعاهم کوله چې دا شمیر اوس ۹۵٪ ته رسیدلی دی. دواړو وویل چې د روغتیایي اسانتیاوو ساتنه یې کړې ده که څه هم د بامیان ولایت چارواکو دا شکایت هم وکړ چې دوی اکثره وخت د بودجې د نشتون له امله په دې نه توانیږي چې روغتیایي مرستې وکړي.

د وګړو د دلایلو په نظرکښې نیولو سره مونږ دې نتیجې ته ورسیدو چې هغه معلومات چې دولتي ریاستونو راکړی دي دا ښودنه کوي چې دولتي ریاستونه یا په ارادي توګه خپل پرمختګ او کړنې سره مخلص نه دي او یا پخپل ولایت کښې د روغتیایي اسانتیاوو له واقعیتونو څخه بې خبره دي. دا دواړه ستونزې د بودجې د اغیزمن پلان لپاره د توجه وړ دي. دا ددې لپاره هم د توجه وړ دي ترڅو دا خبره باوري شي چې وسایل او مصارف د خلکو اړتیاوو ته ځوابویونکي دي او د بودجې لپاره د اغیزمنې پایلې لرونکی پروګرام او هم د ښغی نظارت او څارنې لپاره یو اغیزمن پروګرام په لاره واچول شي.

## د زده کړو وزارت د ښوونې او روزنې وزارت

### هدف لاس ته راوړل او د وزارت هڅې معلومول

د ۲۰۲۰ م کال پورې په لمړنی زده کړو کې د ۱۰۰٪ ماشومانو د شمول د هدف په برخه کې، په ټولو ولایتونو کې م د ای سي ټي ای ACTA او هم د ټولني غړي په دې ګمان وو چې دولت د دغه هدف ترلاسه کولو لپاره په سمه توګه مخې ته ځي چې د اندازې له مخې یې تر اوسه لږ تر لږه له ۵۰ څخه نیولی تر ۸۰٪ پورې په لمړنی زده کړو کې شامل کړی دي که څه هم په هرات او ننګرهار ولایتونو کې مرکه شوي خلک په دې ګمان وو چې په لمړنی زده کړو کښې د انجونو شاملیدل له هلکانو څخه ډیر زیات کم دی. په ټول ولایت کې خلک په دې باور وو چې دولت د ظرفیت لوړنی اهدافو په لاس ته راوړلو، د ښوونکو د زده کړو د خونديتوب کولو، د ښځو لپاره د داسې مرستندویه کورسونو دایرولو چې دوی د کانکور د ازموینې لپاره تیار کړي او د زده کړې په ښه کولو کې پوره پاګونه نه ده کړې. د لوړې سطحې زده کړو په برخه کې د ټولني غړي په دې باور وو چې یوازې له ۲۰ څخه تر ۵۰٪ پورې ښوونکي له ۱۴م څخه فارغ دي. سره له دې چې پالیسي کې دا ژمنه شوې ده، هیڅ ټولنه په دې باور نه وه چې د ښځو لپاره د کانکور ازموینې د تیارۍ لپاره مرستندویه کورسونه په جوړ شوي وو او هغه خلک چې خبري ورسره شوې وې په دې نظر وو چې سربیره پر دې چې ای این ډی ایس ANDS دا هدف لري چې تر ۲۰۱۳ م کال پورې به د زده کړو کچې ته ۵۰٪ وده ورکړي، دولت د زده کړو کورسونو لپاره پوره وسایل نه دي برابر کړي. ای این ډي ایس ANDS دا شرط ایښی دی چې نوی نصاب باید جوړ شي او ټول ماشومان باید د نوی نصاب کتابونه ولري خو که څه هم ځینې ټولنو ویل چې دوی نوي کتابونه ترلاسه کړي دي. داسې راپوروونه هم وو چې د کتابونو کمښت په هر ولایت کې لیدل کیده او ځینو دا شکایت هم درلود چې دوی اوس هم پخوانی نصاب کاروي. سربیره پر دې چې دا ژمنه هم شوې وه چې ښونځیو کې به د ورزش پرمختګ سره مالي مرسته وشي، ټولو خلکو ویل چې د ورزشي وسایلو په اخستلو یا زده کونکو ته د ورزشي اسانتیاوو په برابرولو کې هیڅ دولتي مرسته نه ده شوې.

### کلیدي ستونزې

د ټولو ولایتونو د زده کړې د سکتور د کلیدي ستونزو له جملې څخه ډیر کم شمیر ښونځي، بې استعداده ښوونکي، ډیر کم شمیر ټولګي او اداری فساد ( د ښوونکو په ګمارلو کې، د ابادۍ کارونو کښې او داسې نور) په ګوته شوې. ډیرو خلکو دا هم ویل چې بې کیفیته نصاب، د میزونو او څوکیو په څیر موادو کمښت، د لابراتوروونو او کتابخانو غونډې اسانتیاوو

کمښت او د ښوونکو ناکافي معاشونه هم له ستونزو څخه دي.

### د دولت انځور

د کابل د زده کړو ریاست له دې ډډه وکړه چې د ای پي ډي د سولې او دموکراسۍ د پوښتنوالي مؤسسې لخوا د بودجې د بیا کتلو څیړنې سره مرسته وکړي خو د بامیان، ننګرهار او د هرات ولایتونو عالي رتبه چارواکو د زده کړو د لمړنیو اړتیاوو په پوره کولو کښې د پرمختګ په برخه کښې یوشان ستونزو ته اشاره وکړه. ددغه ریاستونو پرسونل په اوس وخت کښې په لمړنیو زده کړو کښې د ماشومانو د شاملیدو اندازه ۷۰٪ وښودله خو په ځانګړې توګه د انجونو ماشومانو د شاملیدو په زیاتوالی کښې یې ستونزې ومنلې. که څه هم د ننګرهار او هرات ولایتونو چارواکو دا ادعا کوله چې دوی ماشومانو ته د نوي نصاب پوره کتابونه ورکړي دي خو د بامیان ولایت چارواکو وویل چې دوی له تیرو ۴ کلو راهیسی بیخي په دې نه دي توانیدلي چې ماشومانو ته د نصاب کتابونه ورکړي. همدا راز، د ننګرهار او هرات چارواکو وویل چې د ښوونګو لیاقت ښه دی او د اندازې له مخې ۷۰٪ ښوونکي له ۱۴ څخه فارغ دي خو په بامیان ولایت کې چې د ښوونکو د کمښت یادونه وشوه د چارواکو د اندازې له مخې دا ارقام تقریبا ۵۰٪ وو. دا هم وویل شو چې په ځینو مواردو کښې هغه خلک هم د ښوونکو په توګه ګمارل کیږي چې له شپږم ټولګي پورې زده کړې کړې وي.

ددغو درې ولایتونو چارواکي په دې ګمان وو چې د زده کړو کورسونوجوړولو کښې د دولت رول ناکافي و خو پرته له ننګرهار څخه چیرې چې د دولت ارزونه یو څه مثبته وه ځکه چارواکي ادعا کوي چې دلته د زده کړو ۵۹۱ کورسونه فعالیت کوي. د بامیان ولایت چارواکي په دې ګمان وو چې د زده کړې په کچه کښې یوازې په مرکز کښې سمون راغلی دی خو د بودجوي ستونزو له امله ولسوالیو ته ددغې سمون ګټه نه ده رسیدلې او په هرات ولایت کښې د زده کړې کورسونه په بنیادي توګه د مؤسساتو لخوا حمایه کیږي نه د دولت لخوا. دولتي چارواکو ادعا کوله چې دوی په ننګرهار او هرات کښې ښونځیو ته د بودجې پر ځای ورزشي وسایل ورکوي خو په بامیان کې یې نه ورکوي چې دا بیا په ښونځیو کې د ورزشي وسایلو څخه د ملاتړ په برخه کې د مؤسساتو د رول ښودنه کوي. دغه ریاستونو ادعا کوله چې په ننګرهار او هرات کې د ښونځیو څخه ساتنه وکړي خو په بامیان کې د بودجوي ستونزو له امله د محدود ظرفیت یادونه وشوه. همدارنګه په ننګرهار او هرات ولایتونو کې د ښوونکو معاشونه کافي یاد شول خو لږ تر لږه د دریو میاشتو په ځنډ ورته معاشونه ورکول کیږي خو په بامیان کې داسې نه و.

که څه هم داسې بریښیدل چې ددغو ولایتونو ریاستونه د ښوونې سکتور د ستونزو څخه یو څه خبر وو خو بیاهم د وګړو، د ټولنو او په ننګرهار او هرات ولایتونو د دولتي چارواکو له ارزونې څخه د ستونزو څخه د دوی عمومي بې خبرې په ډاګه شوه. سره له دې چې د بامیان ولایت چارواکي له هغو ستونزو څخه ډیر باخبره وو چې د بامیان خلک او د دغه ولایت د ښوونې ریاست ورسره لاس او ګریوان و، د ننګرهار او هرات ولایتونو چارواکي یا ستونزو څخه لیرې وو او یا دا چې د اصلي واقعیتونو څخه بې خبره وو.

د دولت او د وګړو د دلایلو ترمنځ توپیر او په ځانګړې توګه د عامې روغتیا په سکتور کې ژور توپیرونه لږ تر لږه د ټولنې سره د بامعنی سلامشورې نشتوالی او د اصلي اړتیاوو او کړنو په نظر کښې نه نیولو سره د بودجې په پلان جوړونه کښې ستونزې څرګندوي. دا اړینه ده چې په یاد ولرو چې که څه هم دا ارزونه یوازې د عامې روغتیا او د ښوونې سکټورونه د پوښښ لاندې راولي چې یو څو مثالونه دي او د هغو اداري او د ظرفیت ستونزو په نظر کښې نیولو سره چې په دې ټوله بیاکتنه کښې وښودل شو داسې ښکاري چې دغه ستونزه به په ټولو دولتي سکټورونو کښې موجوده وي.

## ۴.۷ د مدنی ټولنې ونډه

د مالیې وزارت په ۱۳۹۲، ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کې له مدنی ټولنې سره ورکشاپونه په تر سره کړې دي. د افغانستان اسلامی جمهوری دولت مطابق، د مدنی ټولنې ورکشابونه د دې لپاره په لاره اچول کیږي ترڅو په دولتي سکټور کښې حساب ورکونه او شفافیت ته وده ورکړل شي او همدارنګه ترڅو د بودجې په پلان جوړونه، اجراء کولو او له بودجې څخه د نظارت په پروسو کښې مدنی ټولنې ته زده کړه ورکړل شي او دوی په دې کې یوځای کړای شي. د مدنی ټولنې ۱۳۹۴ م ورکشاپ د کال ۲۰۱۴ م د جولای میاشت په ۲۳ مه نیټه په تر سره شوی و چې په کښې د GRB او د ۱۳۹۳ بودجې په اړه پریزنتیشنونه وړاندې شو. په دغه ورکشاب کې ۲۱ ملکی او نړیوال سازمانونه رابلل شوي وو. د اجنداء سره سم، د مالیې وزارت د پریزنتیشن وروسته د مدنی ټولنې لپاره یو ۳۰ دقیقیې ناسته وشوه تر څو سپارښتنې ورکړې او د ۲۰ دقیقو لپاره پوښتنې او ځوابونه وشي. دغه ورکشاب نیمه ورځ دوام وکړ.

د مالیې وزارت د کال ۲۰۱۳ م د نومبر میاشت کې د ۱۳۹۳ م کال د بودجې، د ولایتي بودجې نوې پالیسۍ او د ولایتی سهم په اړه هم یو ورکشاب جوړ کړ. دې ورکشاب هم د نیمې ورځ لپاره دوام وکړ چې هر پریزنتیشن وروسته په کښې د ۱۵ دقیقو لپاره د پوښتنو او ځوابونو ناسته هم وشوه. په دې ورکشاب کې ۲۸ ملکي او نړیوال سازمانونه، ۱۰ رسنیزې شبکې او یو پوهنتون رابلل شوي و.

دا څخې چې مدنی ټولنې ته د لاسرسی لپاره په جوړ شوي وي یو هیله منډ ګام دی خو په یو کال کې دوه نیمه ورځ ورکشابونه او مدنی ټولنې د پوښتنو او ځوابونو او د سپارښتنو لپاره ۸۰ دقیقې مختص کول د ملي بودجې په پلان جوړونه، د بودجې په اجرا کولو او له بودجې څخه د نظارت کولو په پروسه کې د مدنی ټولنې یو ځای کولو لپاره یوه ناکافی هڅه ده. دا څبره د یوڅو مدنی ټولنو لخوا د سولې او دموکراسۍ د پوښتنوالي مؤسسې په ترسره شوې سروې ګانو کې هم داسې یاده شوه چې یوې مدنی ټولنې د پلان جوړونه په پروسه کې د زیاتې برخې غوښتنه وکړه او بلې مدنی ټولنې بیا د بودجې په پروسو کې د مدنی ټولنو د دوامداره او منظمې ونډې غوښتنه وکړه.

# ۵. سپارښتنې

د کلنۍ بودجې ددغې بیا کتنې د موندنو په نظر کې نیولو سره، د سولې او دموکراسۍ د پوهاوي مؤسسې لاندینۍ سپارښتنې کوي:

## دولت

### مالي ثبات

#### کورني عاید

- د لوړ رتبه مدیرانو او د عوایدو اړوندو ریاستونو د مشرانو د فعالیت ارزونه کول او د پرسونل منظم بیا تشکیلول کول ترڅو له دې لارې د اداري فساد مخنیوی وشي او د عوایدو راټولول نور هم ښه او شفاف شي.
- د هر ولایت او د هر وزارت د عوایدو د راټولو توانمندي ارزول او یو داسې سیستم جوړول چې د عوایدو د راټولو توانمندۍ او د اصلي راټول شوي عوایدو ترمنځ له توپیر څخه نظارت وکړي. همداشان د عوایدو تنظیمولو او راټولولو لپاره یو منظم سیستم رامنځته کول.
- له دې لپاره چې د کان کیندنې سکټور کې شفافیت او حساب داري او همدارنګه ددې سکټور د عوایدو راټولو توانمندۍ ته عملي جامه واغوستل شي اړینه ده چې د کان کیندنې د هغې قانون بیاکتنه او بیا ارزونه وشي چې د اګست په میاشت کې لاسلیک شوی و.
- د عوایدو راټولو ربښتوني او واقعي اهداف تعینول ترڅو مالي ثبات باوري کړای شي ځکه چې د عوایدو د اهدافو په برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا سمه رسیدګي نه ده شوې.
- د د اضافي ارزښت د مالیې اغیزمن تطبیق باوري کول.

#### اداري عملیات او ساتنه

- د امنیتي او غیر امنیتي زیربناوو اوسنۍ، ناتکمیلې او تکمیل شوو پروژو د عملیات او ساتنې بیه اندازه کول او د عملیات او ساتنې روښانه او ربښتوني اندازه لګول.
- د نوو پرمختیایي پروژو لپاره د عملیات او ساتنې بودجې ته لمړیتوب ورکول خو له دې وروسته چې د عملیات او حفظ او مراقبت ساتنې لګښت اندازه شي ترڅو دا باوري شي چې د اوسنیو زیربناوو څخه به ساتنه کیږي.
- د بودجې اجرا کول
- په ځانګړې توګه پرمختیایي بودجې لپاره د مرکزي او ولایتي حکومتونو ترمنځ د مصارفو او ویشنو طرزالعملونه بیا تنظیمول ترڅو له دې لارې د بودجې د اجرا کولو پروسو په اغیزمنتیا کښې سمون راوستل شي.
- دا باوري کول چې ولایتي ادارو ته پوره صلاحیت او روزنه ورکول کیږي ترڅو د وسایلو د سمو اجراکولو په برخه کې د دوی ظرفیت لوړ شي.

### د تمویلونکي مرسته او صلاحیت

- نړیوالو تمویلونکو سره خبرې کول ترڅو پخپله کومکي بودجه کې له ۵۰٪ څخه پورته زیاتوالی رامنځته او ترڅو په پرمختیایي بودجه کښې زیات واک او صلاحیت ولري. ددی ترڅنګ هغوی ته دا قناعت ورکول چې د اداري فساد د له منځ وړلو، د څار او نظارت اغیزمن سیستم جوړولو، د اهلیت پر بنیاد ګمارلو، د زیاتی بودجې اجرا کولو او د بودجوي اصلاحاتو د اهدافو ترلاسه کولو لپاره هڅې روانې دي.
- د وسایلو پیرلو او په ځانګړو لکه د عملیات او حفظ او مراقبت غوندې شیانو باندې د مصرف کولو لپاره ولایتونو ته د واک یوه ښکاره برخه ورکول ترڅو په زیربناو کښې ضروري کمښت په بیړنۍ توګه پوره کړای شي بی له دی چې مرکزی بیوروکراسي پکې دخل اندازي وکړي.
- د وروستي مرکزي تدارکاتو دفتر سره سم باید د سامانونو د پیرلو د څارنې لپاره یو میکانیزم جوړ شي او په مرکزی کچه د کان کیندنی، مخابراتو او نورو سکتورونو په سترو پروژو کې د تدارکاتو سیستم باید په کلکه وڅارل شي.

## د عامه مالي چارو تنظیمول او اصلاحات

### حساب ورکول او شفافیت

- معلوماتو ته د لاسرسي قانون تصویبول او د انټرنیټ پرته له نورو لارو معلوماتو ته لاسرسی ښه کول لکه د راډیو، موبایل ټلیفونونو، ټلویزیون او د بودجې لیکلی معلومات ویشل او په دی توګه شفافیت او حساب ورکول باوري کول.
- شفافیت نور هم ښه کول او ددی لپاره ولایتی ریاستونو ته لارښونه کول ترڅو مدنی ټولنو او وګړو سره معلومات شریک کړي ترڅو په سیمه ایزه کچه باندې د بودجې او د شفافیت او حساب ورکولو په اړه د معلوماتو ویشل باوري شي ځکه چې بیوروکراټک طرزالعملونو اوس ددی کار مخنیوی نیسي.

### څارنه او ارزونه

- د حساب تصفیه کولو سیستم کې سمون راوستل ترڅو نړیوالو معیارونو سره سم د حساب اغیزمنه تصفیه باوري شي.
- د څارنې او ارزونی پر نتیجو ولاړ سیستم جوړول ترڅو شفافیت، حساب ورکول او د پروګرامونو اغیزمنتیا باوري شي.
- د څارنې او ارزونی لپاره مدنی ټولنو سره همغږې کول ترڅو د څارنې، راپور ورکونی او د شته وسایلو د اغیزمن استعمال په برخه کې د مدنی ټولنو توانمندۍ څخه ګټه واخستل شي.

### ولایتی بودجه جوړول

- د لازمی مورد په توګه په بودجه کې ولایتی مشورې شاملول او دا باوري کول چې د بودجې جوړولو په پروسو کې ولایت ته هم پرمختیایي بودجه ځانګړې کیږي او له دی بودجې څخه سم کار اخستل کیږي.
- په ملی بودجه کې د هر ولایت لپاره بودجه تخصیصول (هم پرمختیایي او هم عادی بودجه) چې پارلمان ته استول کیږي.

### د پروګرامونو بودجه جوړول

- د پروګرامونو بودجه مرکزی کول او د AFMIS بیا کتنه کول ترڅو له دی لارې له دودیزی بودجې څخه د پروګرام بودجې ته انتقال حتمی شي.
- په هر راپور کې باید د پروګرام بودجې په اړه معلومات وي پر ځای ددی چې یوازې سکتوري برخو کې د پروګرام بودجې معلومات محدود شي.

### د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکي بودجې جوړول

- د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکي بودجې جوړولو پروګرام ته په ټولو آزمیښتي وزارتونو کښې پراختیا ورکړئ او د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکي بودجې لارښود بیا و ارزوئ تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د جنډر موضوعاتو ته ځواب ورکونکي بودجې نورې اجزاء لکه د جنډر د بودجې صورت حساب او تقسیمات د جنډر له نظره ګټه اخستونکي په هغه کښې شامل دي.

- د ځارنې او ارزونې د يو ساده شوي ګټور سيستم څخه په استفاده د جنډر په اړه بيلا بيل معلومات راټول کړئ او د افغانستان د مديريتي معلوماتي سيستم يا بل موجود آدرس کښې يې ور داخل کړي او د يوې بهترې لارې په توګه پر نتيجو ولاړه يوه بودجه جوړه او د جنډر اړتياو او ستونزو ته پکښې پام وکړئ.
- د جنډر د بودجې يو معنا لرونکي، ربښتونی صورت حساب بايد ترتيب شي، کوم چې ټولو ته د بودجې، پروګرام، او ګټه اخستونکو په اړه د جنډر له نظره او همدا چې دا بودجه په ټولوسکټورونو کښې د جنډر برابری موضوع ته وده ورکوي، معلومات ورکړي.

د مدنی ټولنو ونډه

- مدنی ټولنو سره همکاری تقويه کول ترڅو د عوايدو راټولولو څخه نظارت وشي، د ولايتی اړتياوو ارزونه وشي، معلومات راټول شي او يو بل سره شريک شي او له يو بل د توانمندۍ څخه ګټه واخستل شي.
- هم د تطبيقونکو همکارانو او هم د نه تطبيقونکو همکارانو يانی د مدنی ټولنو د مشوری اخستنی څخه ملاتړ کول نه يوازې له ماليې وزارت لخوا بلکه ټول وزارتونه بايد ددی ملاتړ وکړي.
- د مدنی ټولنو ظرفيت لوړول ترڅو د ځارنی د ميکانيزم په توګه کار وکړي او اداري فساد سره مبارزه وکړي ترڅو د بودجې موثريت لابنه شي.

## د نړيوالو تمويلونکو لپاره

- د افغانستان اسلامی جمهوری دولت سره دوامداره مرسته کول ترڅو د کورنيو عوايدو په زياتوالی، د اداری فساد په مخنيوی،

  د بودجوي اصلاحاتو په تطبيقولو، د بودجې په اجرا کولو او د ځارنی او ارزونی سيستم په جوړولو کې يې اغيزمنتيا لا زياته شي.
- د بودجې څخه نظارت ته د مدنی ټولنو په ملاتړ کې لمړيتوب ورکړي.
- په پرمختيايي بودجه کې د افغانستان اسلامی جمهوری دولت صلاحيت لا زيات کړي.
- د حکوم د مشروعيت د بنه والي لپاره د بودجې د ملاتړ په اړه د ۵۰٪ زياتوالی تر اداره پرمخ بوزي او د بودجې د لګښت له لارې بودجې ملاتړ و هڅوي - د بودجې څخه خارج ملاتړ تر لاسه کولو لپاره -او پکار ده چې هغه د دولت د پاليسيو او نظارت د ميکانيزمونو سره سمون و لري، لکه د بودجې دوران، د تدارکاتو قانون، د عامه مالي او لګښتونو قانون او تفتيش
- دا باور تر لاسه شي چې د کورنيو عوايدو د ترلاسه کولو لپاره د دولت اهداف واقعی دي ځکه چې دا اهداف تر اوسه ناسم اټکل شوي دي.
- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د ټولو زيربناو او تاسيساتو سپارلو ډاډ تر لاسه کړئ، چې په پر وخت خبرداری او د حفظ او مراقبت لپاره د دولت د مالي پلان جوړونې ډاډ تر لاسه شي، له هغې جملې څخه هغه پروژې چې په نا سمه توګه تطبيق شوي او لکه د ولايتي بيا رغونې چې د حکومت د پلان څخه د مخه ترل شوي دي.

## د مدنی ټولنو سازمانونو لپاره

- د کلنۍ بودجې، د بودجې پروسی، د بودجوي اصلاحاتو او د دولت د ماليی مديريت او د مالی ثبات په برخه کې د کليدي ستونزو څخه د پوهاوي يوه پروسه پيل کړي.
- د مخالفانه روش پرځای د مدنی ټولنو او دولت ترمنځ يو همکار روش څخه ملاتړ وکړي ترڅو له دی لارې دواړه وکولای شي چې د ښی حکومتدارۍ او د بودجې په اغيزمنه جوړولو لپاره هڅه وکړي.

| سکتور – وزارت | ارقام به هزار (۰۰۰) | | | | | | فیصدی مجموع بودجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | بودجه عادی | | انکشافی | | مجموع | | |
| | افغان | دالر | افغان | دالر | افغان | دالر | |
| سکتور امنیت | | | | | | | |
| شورای امنیت ملی | 88,482 | 1,552 | - | - | 88,482 | 1,552 | 0% |
| ریاست امنیت ملی | 11,897,874 | 208,735 | 2,296 | 40 | 11,900,170 | 208,775 | 3% |
| حفاظت ریس جمهور | 977,339 | 17,146 | 44,120 | 774 | 1,021,459 | 17,920 | 0% |
| وزارت امور خارجه | 2,854,136 | 50,073 | 182,628 | 3,204 | 3,036,764 | 53,277 | 1% |
| وزارت امور داخله | 69,833,679 | 1,225,152 | 13,173,358 | 231,112 | 83,007,037 | 1,456,264 | 18% |
| تمویل شده از طرف مساعدت های خارجي | 58,249,633 | 1,021,923 | - | - | 58,249,633 | 1,021,923 | |
| تمویل شده از طرف عواید داخلی | 11,584,046 | 203,229 | | | 11,584,046 | 203,229 | |
| وزارت دفاع | 97,714,722 | 1,714,293 | 6,726,373 | 118,007 | 104,441,095 | 1,832,300 | 23% |
| تمویل شده از طرف مساعدت های خارجي | 86,276,176 | 1,513,617 | | | 86,276,176 | 1,513,617 | |
| تمویل شده از طرف عواید داخلی | 11,438,546 | 200,676 | | | 11,438,546 | 200,676 | |
| مجموع | 183,366,233 | 3,216,951 | 20,128,775 | 353,136 | 203,495,008 | 3,570,088 | 44% |
| حکومتداری خوب، حاکمیت قانون و حقوق بشر | | | | | | | |
| اداره عالی مبارزه با فساد اداری | 100,000 | 1,754 | | | 100,000 | 1,754 | 0% |
| اداره مستقل ارگان های محل | 2,208,036 | 38,737 | 313,938 | 5,508 | 2,521,974 | 44,245 | 1% |
| دفتر ریاست اجراییوی | 165,000 | 2,895 | - | - | 165,000 | 2,895 | 0% |
| دفتر ریاست دولت | 1,802,133 | 31,616 | 24,352 | 427 | 1,826,485 | 32,044 | 0% |
| ریاست عمومی اداره امور | 731,987 | 12,842 | | | 731,987 | 12,842 | 0% |
| ستره محکمه | 2,960,216 | 51,934 | 245,871 | 4,314 | 3,206,088 | 56,247 | 1% |
| مشرانو جرگه – شورای ملی | 498,276 | 8,742 | | | 498,276 | 8,742 | 0% |
| ولسی جرگه – شورای ملی | 1,201,708 | 21,083 | 824 | 14 | 1,202,532 | 21,097 | 0% |
| اداره لوی سارنوالی | 1,072,533 | 18,816 | 314,614 | 5,520 | 1,387,147 | 24,336 | 0% |
| وزارت حج و اوقاف | 808,062 | 14,177 | | | 808,062 | 14,177 | 0% |
| وزارت دولت در امور پارلمانی | 40,000 | 702 | | | 40,000 | 702 | 0% |
| ریاست عدلیه | 600,213 | 10,530 | 387,518 | 6,799 | 987,731 | 17,329 | 0% |
| کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی | 330,283 | 5,794 | 305,715 | 5,363 | 635,998 | 11,158 | 0% |
| کمیسیون مستقل انتخابات | 145,518 | 2,553 | 62,700 | 1,100 | 208,218 | 3,653 | 0% |
| کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی | 41,800 | 733 | | | 41,800 | 733 | 0% |
| کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان | 67,777 | 1,189 | | | 67,777 | 1,189 | 0% |
| کمیسیون سمع شکایات انتخاباتی | 30,000 | 526 | | | 30,000 | 526 | 0% |
| مجموع | 12,803,544 | 224,624 | 1,655,532 | 29,044 | 14,459,076 | 253,668 | 3% |
| سکتور زیربناها و منابع طبیعی | | | | | | | |
| وزارت فواید عامه | 3,551,683 | 62,310 | 24,093,580 | 422,694 | 27,645,262 | 485,005 | 6% |
| اداره ملی حفاظت محیط زیست | 185,160 | 3,248 | 65,997 | 1,158 | 251,157 | 4,406 | 0% |
| اداره هوانوردی ملکی | 344,100 | 6,037 | 2,887,189 | 50,652 | 3,231,289 | 56,689 | 1% |
| بورد مستقل کابل جدید | | | 71,285 | 1,251 | 71,285 | 1,251 | 0% |
| د افغانستان برشنا شرکت | | | 16,325,358 | 286,410 | 16,325,358 | 286,410 | 4% |
| ریاست جیودولوزی کارتوگرافی | 125,827 | 2,207 | | | 125,827 | 2,207 | 0% |
| شاروالی کابل | | | 3,797,839 | 66,629 | 3,797,839 | 66,629 | 1% |
| شرکت آب رسانی و کانالیزیسیون | | | 325,292 | 5,707 | 325,292 | 5,707 | 0% |
| وزارت امور شهر سازی | 260,800 | 4,575 | 553,101 | 9,704 | 813,901 | 14,279 | 0% |
| وزارت انرژی و آب | 560,575 | 9,835 | 8,501,238 | 149,145 | 9,061,813 | 158,979 | 2% |
| وزارت ترانسپورت | 260,000 | 4,561 | | | 260,000 | 4,561 | 0% |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی | 468,075 | 8,212 | 368,187 | 6,459 | 836,262 | 14,671 | 0% |
| وزارت معادن و پترولیم | 499,678 | 8,766 | 1,871,758 | 32,838 | 2,371,436 | 41,604 | 1% |
| کمیسیون عالی انرژی اتمی افغانستان | 39,353 | 690 | | | 39,353 | 690 | 0% |
| مجموعه | 6,295,250 | 110,443 | 58,860,825 | 1,032,646 | 65,156,075 | 1,143,089 | 14% |
| سکتور معارف | | | | | | | |
| وزارت تحصیلات عالی | 4,601,398 | 80,726 | 1,323,596 | 23,221 | 5,924,994 | 103,947 | 1% |
| وزارت معارف | 30,162,853 | 529,173 | 17,494,267 | 306,917 | 47,657,120 | 836,090 | 10% |
| اکادمی علوم افغانستان | 170,563 | 2,992 | | | 170,563 | 2,992 | 0% |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و سپورت | 266,891 | 4,682 | 75,406 | 1,323 | 342,297 | 6,005 | 0% |
| ریاست عمومی رادیو و تلویزیون افغانستان | 343,000 | 6,018 | 86,204 | 1,512 | 429,204 | 7,530 | 0% |
| وزارت اطلاعات و فرهنگ | 450,391 | 7,902 | 45,056 | 790 | 495,447 | 8,692 | 0% |
| مجموعه | 35,995,095 | 631,493 | 19,024,529 | 333,764 | 55,019,624 | 965,257 | 12% |
| سکتور صحت | | | | | | | |
| وزارت صحت عامه | 2,791,931 | 48,981 | 18,217,023 | 319,597 | 21,008,954 | 368,578 | 5% |
| مجموع | 2,791,931 | 48,981 | 18,217,023 | 319,597 | 21,008,954 | 368,578 | 5% |
| سکتور زراعت و انکشاف دهات | | | | | | | |
| اداره اراضی افغانستان | 212,500 | 3,728 | 60,073 | 1,054 | 272,573 | 4,782 | 0% |
| وزارت احیا و انکشاف دهات | 484,500 | 8,500 | 35,551,454 | 623,710 | 36,035,954 | 632,210 | 8% |
| وزارت زراعت، مالداری و آبیاری | 1,041,626 | 18,274 | 7,118,517 | 124,886 | 8,160,143 | 143,160 | 2% |
| وزارت مبارزه علیه مواد مخدر | 169,452 | 2,973 | 1,881,711 | 33,012 | 2,051,163 | 35,985 | 0% |
| مجموع | 1,908,079 | 33,475 | 44,611,755 | 782,662 | 46,519,834 | 816,137 | 10% |
| سکتور مصوونیت اجتماعی | | | | | | | |
| اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث | 95,484 | 1,675 | | | 95,484 | 1,675 | 0% |
| ریاست عمومی انسجام کوچی ها | 58,780 | 1,031 | | | 58,780 | 1,031 | |
| وزارت امور زنان | 184,578 | 3,238 | | | 184,578 | 3,238 | |
| ریاست اقوام و قبایل | 396,919 | 6,963 | 93,235 | 1,636 | 490,154 | 8,599 | |
| وزارت مهاجرین و عودت کننده گان | 210,750 | 3,697 | 43,347 | 760 | 254,097 | 4,458 | |
| وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین | 18,882,090 | 331,265 | 856,288 | 15,023 | 19,738,378 | 346,287 | 4% |
| مجموع | 19,828,600 | 347,870 | 992,870 | 17,419 | 20,821,471 | 365,289 | 5% |
| سکتور اقتصاد و انکشاف سکتور خصوصی | | | | | | | |
| وزارت مالیه | 1,829,194 | 32,091 | 4,918,564 | 86,291 | 6,747,758 | 118,382 | 1% |
| اداره مرکزی احصاییه | 146,336 | 2,567 | 307,503 | 5,395 | 453,839 | 7,962 | 0% |
| اداره ایجاد سهولت برای حمایه منابع تمویلی کوچک در افغانستان | | | 1,680,960 | 29,491 | 1,680,960 | 29,491 | 0% |
| اداره حمایت از سرمایه گذاری در افغانستان | | | 57,000 | 1,000 | 57,000 | 1,000 | 0% |
| اداره مستقل ملی استندرد افغانستان | 69,306 | 1,216 | 69,306 | | | 1,216 | 0% |
| اداره کنترول و تفتیش | 136,439 | 2,394 | 797,002 | 13,982 | 933,441 | 16,376 | 0% |
| وزارت اقتصاد | 252,335 | 4,427 | 243,088 | 4,265 | 495,423 | 8,692 | 0% |
| وزارت تجارت و صنایع | 408,942 | 7,174 | 462,423 | 8,113 | 871,365 | 15,287 | 0% |
| دفتر شورای اقتصاد ملی | 49,500 | 868 | 65,684 | 1,152 | 115,184 | 2,021 | 0% |
| مجموعه | 2,892,052 | 50,738 | 8,532,224 | 149,688 | 11,424,276 | 200,426 | 2% |
| | | | | | | | |
| مجموع واحد های بودجوی | 265,880,785 | 4,664,575 | 172,023,533 | 3,017,957 | 437,904,318 | 7,682,532 | 95% |
| | | | | | | | |
| مجموعه کود های متفرقه و احتیاط | 9,868,298 | 173,128 | 10,978,309 | 192,602 | 20,846,607 | 365,730 | 5% |
| | | | | | | | |
| مجموع کل | 275,749,083 | 4,837,703 | 183,001,842 | 3,210,559 | 458,750,925 | 8,048,262 | 100% |